http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# د خاطر دیوان

مصري خان خاطر اپریدے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# ترون

دخیبر دړې
دشاعرانه غېږې
په
نوم

دخاطر رنګین غزل ته حېرانېږم
په دې خړ خیبر کښې څۀ دې پېدا خاورو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



# فهرست

شمیر — مخ

( ا )

۱ : چې عاشق د معشوقې په لور کاتۀ کا ———— ۱۴
۲ : چې اشنا ئې ستمګرشي نو به څۀ کا ———— ۱۵
۳ : ته ړوند ې کوی هر دخت د ددونه اشنا ———— ۱۶

( د )

۴ : کافی برقی دی دیار د محمد ———— ۱۷

( ل )

۵ : خیر نن که درته ما وکتل تا راوکتل ———— ۱۸

( م )

۶ : د استاد حسن تماشې وا خستم ———— ۱۹
۷ : دوایه شم تا نه قربان څۀ وکړم ———— ۲۰
۸ : باغ د مینې دې د خیال پکښې غنچې کړم ———— ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


مخ


۹ : زهٔ نکه د مرم په شان دیدان زه اربهٔ کړم ———— ۲۲
۱۰ : شرمسره چې نه یم په ځوانه پسې نصیر یم ———— ۲۳
۱۱ : ستا په الفت کښې به هیڅ بېباره نهٔ شم ———— ۲۴
۱۲ : واخلمه تا اوکهٔ دنیا واخلم ———— ۲۵
۱۳ : خوشحالي ستا شوه زهٔ ئې نهٔ اخلم ———— ۲۶
۱۴ : لکه کلي چې په ازغو کښې وینم ———— ۲۷
۱۵ : په دې دنیا کښې هسې شپې تېرږم ———— ۲۸
۱۶ : اشنا کهٔ تا ته په کتو پره شوم ———— ۲۹
۱۷ : قسمته داسې دې وُدهٔ کړم چې بیدار نهٔ شوم ———— ۳۰
۱۸ : نور په نړهٔ ئې نهٔ ځانګړی چې څهٔ وایم ———— ۳۱
۱۹ : ته به کرغ هسې بڅلي نهٔ به مړیم ———— ۳۲
۲۰ : جنګلي مخ ته دې د مرم په شان اربهٔ یم ———— ۳۳
۲۱ : رنګ ته چې ګوره سرے سکرو نهٔ یم ———— ۳۴
۲۲ : سپرلیه ! زهٔ دې په غنچو کښې نهٔ یم ———— ۳۵
۲۳ : یاره ! ستا مینې په اور سېزلے یم ———— ۳۶
۲۴ : ستا د مترل په منزلونو کښې یم ———— ۳۷


( و )


۲۵ : زوندي کله نه ماړهٔ دي چې لهٔ ځا دره ———— ۳۸
۲۶ : څوره به زهٔ ئې د بڼمه په سرو سترګو ———— ۳۹
۲۷ : نن به څهٔ پرسې نما په تیرو سترګو ———— ۴۰




مخ


۲۸ : بیا دې سهي نهٔ کړم په هغو سترګو ———— ۴۱
۲۹ : ما د وصال په شپه کښې تو له شپه سحر لیدلې ———— ۴۲
۳۰ : شوق مې ستا لهٔ دیده پیغو هغو سره لاړ لو ———— ۴۳
۳۱ : باد شو همه د عشق ډکې نګو نه په سر دي ———— ۴۴
۳۲ : غم به سره پټ درانه په نړهٔ ذره ذره یې ———— ۴۵
۳۲ب : څکه چې تن په سوز په د تېر کړو ———— ۴۶
۳۲ج : مینه مشوله د یه چې اشکا ره دې وکړه ———— ۴۷
۳۳ : خبر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته ———— ۴۸
۳۴ : زهٔ یمه هجران د دنیا سترګو ته ———— ۴۹
۳۵ : ته چې رقیب ته اشارې کړې دا مل نخښه ده ———— ۵۰
۳۶ : خوارهٔ ترا غنهٔ شو د خړې د هسې نامه پاتې ده ———— ۵۱
۳۷ : بېګا ستا په انتظار یې هسې ستړې تو له شپه کړه ———— ۵۲
۳۸ : لرې دنقاب لرې کړه دل زده کړه ———— ۵۳
۳۹ : ما په شرګې تا په خوږ تېره کړه ———— ۵۴
۴۰ : رقیبه په خبر راغلې راشنا خبرې کړه ———— ۵۵
۴۱ : یاد شرابونه نشې وباسه ———— ۵۶
۴۲ : د سحر باده دا ارمان یوسه ———— ۵۷
۴۳ : لکه کلي د مرسپدو وکه شه ———— ۵۸
۴۴ : ستالهٔ سپینه مخه ځار زما زړګے شه ———— ۵۹
۴۵ : د هجران په شپه درېو په لاس کښې راغله ———— ۶۰
۴۶ : ترخو ته چې زړهٔ کیږي کله کله ———— ۶۱


Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ
٤٧ : ستا د ښکلي مخ شمعه چې مې شړله ____ ٦٢
٤٨ : بیا به سره کړو ووس ځراني دو دنعمه درومه ____ ٦٣
٤٩ : شکر دے چې زه هم د ښېرې شومه ____ ٦٤
٥٠ : کله چې په فکر کښې د ستا یمه ____ ٦٥
٥١ : د لادې خاوره شوم د ونې ښکښې دتلې یمه ____ ٦٦
٥٢ : توبه شکه تېر مې کا په هر ښیار بانډې وختر نه ____ ٦٧
٥٣ : ما په مثال ککه پتنګ تکېنه ____ ٦٨
٥٤ : د ستا د خلې چې فیصله مانه شي ____ ٦٩
٥٥ : نور نصر به څرڅه کښې دافسېن مه راکړه ____ ٧٠
٥٦ : ته څو وایه زه به څه کړم، زړګیه لیې نیه ! ____ ٧١

ډ

٥٧ : څیګر چې شو کباب په لېرا ړد وکېډه ____ ٧٢
٥٨ : لوړے دریاب د مینې نه شي په واړه زړه ____ ٧٣

ی

٥٩ : د امې بله شپه به په نصیب سره راشي ____ ٧٤
٦٠ : عکس د ستا زما د سترګو له څمبا ده ____ ٧٥



٦١ : د ستا سترګې چې کوڅې د زړه نه وځي ____ ٧٦
٦٢ : زړګیه ! تا دې چې د درد ونه څه دي ____ ٧٧
٦٣ : چې پښیمان نه شې په یا کښې څه دي ____ ٧٨
٦٤ : کله د ستا د خند بدر شپې دي ____ ٧٩
٦٥ : د ستا په غم کښې خوشحالۍ پټې دي ____ ٨٠
٦٦ : زما چې دا مدام وخند دلبر ته سترګې دي ____ ٨١
٦٧ : څنګ څو مانه هسې بله دنیا ښکاري ____ ٨٢
٦٨ : زړه چې کله هر څو رانه هر څه غواړي ____ ٨٣
٦٩ : زما زړه او د ستا سترګې سره چېړېږي ____ ٨٤
٧٠ : ما ته چې څن به چې زړه د چېرې څوند درد ونه دې تېرېږي ____ ٨٥
٧١ : څه چې پرې پتمان ما دیار سره جوړېږي ____ ٨٦
٧٢ : د وخت دګداز د مني چې ما غږېد نه جوړېږي ____ ٨٧
٧٣ : نور به ایله څه د لېونې نه پاتې کېږي ____ ٨٨
٧٤ : سترګې دې کړه بربنده چې وختر نه دار خطا شي ____ ٩٠
٧٥ : په ارمان د تا د انې شي چې هر ښیار شي ____ ٩١
٧٦ : د دې دنیا نه چې کلان وړک شي ____ ٩٢
٧٧ : چې چې د بند وے د لبر به پېمان شي ____ ٩٣
٧٨ : ستا چې څو دې زلفې کړ نیږې راتار شي ____ ٩٤
٧٩ : دواړه ند چې به چې ما دې چې کانه به شي ____ ٩٥

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




مخ

٨٠ : خزان لا په شي بهار راشي گلان خوشحاله شي ____ ٩٦

٨١ : راشه په کوڅو کښې د جګر خبرې نه شي ____ ٩٧

٨٢ : داستا په سترګو کښې به څه باقي شي ____ ٩٨


## ے


٨٣ : زړه په ما نه دے چې نارے مخ دے ____ ٩٩

٨٤ : شوک چې ستا د کرار مینې طلبګار دے ____ ١٠٠

٨٥ : خون خوږ د مینې په ترخو کښې انتظار دے ____ ١٠١

٨٦ : خدایه څو مره بې وفا زما دلبر دے ____ ١٠٢

٨٧ : ما دې ځان راته اشنا د ستا په ښهر دے ____ ١٠٣

٨٨ : شاشه چې حسن دې اشنا د سرو لبو ته ورک دے ____ ١٠٤

٨٩ : تک تور سرے دا ستا سرے وربل دے ____ ١٠٥

٩٠ : څومره ورې په زړګي باندې چې غم دے ____ ١٠٦

٩١ : ستا په انتظار کښې ماته کال څه دے ____ ١٠٧

٩٢ : چې زړه مې ستا په تور دے په بل تورې پیوند نه دے ____ ١٠٨

٩٣ : چې لږ نظر هم د یحسر باقي دے ____ ١٠٩

٩٤ : سترګې دې چلې چې وخندا زده کړے ____ ١١٠


## ي


٩٥ : د ځان سپکاوی لرکښې مسکې وې مالیدې ____ ١١١

٩٦ : اشنا مې ن لیده تیرې وعدې رایادیدې ____ ١١٢

٩٧ : زما د امیدونو غنچې شیې وغوړیدې ____ ١١٣

٩٨ : چې بنګلي دې وخندیدې شرشوې ____ ١١٤





مخ

٩٩ : پوه شومه په دې چې په کنځل کښې خوږه بنګاري ____ ١١٥

١٠٠ : اے ګله ستا چې ډکې له خندنه سترګې لرې ____ ١١٦

١٠١ : کله دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څه کړې ____ ١١٧

١٠٢ : د پرون خوشحالي شه نه ده بیا راته هیرېږي ____ ١١٨

١٠٣ : لکه مجنون غونډې ګرځم په بیابان درپسې ____ ١١٩

١٠٤ : راشه اے ماه تابان په توره شپه کښې ____ ١٢٠

١٠٥ : چې د سترګو دې بنګاره نه زما سترګې ____ ١٢١

١٠٦ : خوږ د هسې پرې کړې شرې زما سترګې ____ ١٢٢

١٠٧ : د ستا چې نه وینم دا تورې سترګې ____ ١٢٣

١٠٨ : څه وشو چې سترګې مې په تابانه حضورې شولې ____ ١٢٤

١٠٩ : چې اشنا رې کړې ایسارېږم ولې ____ ١٢٥

١١٠ : اوښکې نه ګیږي ضرورا ماتي شوې ____ ١٢٦

١١١ : ته به په زړه کښې ماته څه راکړې ____ ١٢٧

١١٢ : ته ما ستا شپلې یم په سله ته یې ____ ١٢٨

١١٣ : هر څو که مې د زړه قرار ورله راغې ____ ١٢٩

١١٤ : داسې راته ګورې ته نه چې راته ګورې ____ ١٣٠


## سندرې

له ١٣٢ نه تر ١٦٥ پورې

---

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوقې په لور کا تهٔ کا
خو د لمهٔ شي کم طاقته په بوا تهٔ کا

چې پلو لا مخه لرې کړي د نیا شي
لکه ستر که د سبا چې را خا تهٔ کا

لرې عکس د زړهٔ واخله کهٔ دې شک وي
چې دا تور بانړهٔ دې څرنګه ویشتهٔ کا

پهٔ مثین زړهٔ ځنکدن شي چې یار راشي
پهٔ هیبت زړهٔ پهٔ کوګل کښې الوتهٔ کا

د خاطر پهٔ زړګي داغ د بېلتون کوره
چې د یار پهٔ لور کانړهٔ وانړهٔ کاتهٔ کا

چې اشنا یې ستمګر شي نو به څهٔ کا
چې زخمي شوک پهٔ ځیګر شي نو به څهٔ کا

چې تېول عمر یې تېر کېږي پهٔ پالنګ وي
څهٔ چې زمکه یې بستر شي نو به څهٔ کا

چې پهٔ عمر کښې یې غم لیدلے نهٔ وي
چې د غم سره یې سر شي نو به څهٔ کا

انتظار چې د وصال پهٔ کومه شپه کړي
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څهٔ کا

کهٔ دیدن د یار موندے پهٔ دربدر شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څهٔ کا

زهٔ خاطر خو همېشه د غمسې وایم
چې اشنا یې مسرور شي نو به څهٔ کا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړهٔ مې کوې هر وخت دردو نه آشنا
لږ خو مې واوره فریادونه آشنا

ترڅو به ژاړم ستا په مینه کښې زهٔ
ګوره داو ښکو مې سیندونه آشنا

اوس دې له غمه خلاصیدے نشم
ما وې په عشق کښې وی خوندونه آشنا

ښ په جبین کښې دې خالونه خوږ دی
دی په چشمانو مې ګردونه آشنا

کهٔ ستا په خیال کښې دے اجل ته قریب
د خاطر شته دی ارمانونه آشنا



کاڼی بوټی دی دیار د محمدؐ
ما منلی په دیدار د محمدؐ

ګرځنګونه به یې لاړې شی په مخکښې
کهٔ چا ونیوله لار د محمدؐ

د دُنیا واړه ګلونه به یې هیر شی
کهٔ چا ولیده ګلزار د محمدؐ

چې د دې دُنیا ژړا او خندا نهٔ وے
نهٔ وے شمع په مزار د محمدؐ

د یادونو یې وصال ګنړه خاطره
چې قرار وی یې قرار د محمدؐ

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نه کړه د رته ما وکړل تا را وکتل
خو ګوره دم به دې بیا که دې سبا را وکتل

هم د غسې ګلونه وو چې مینه جوړه
خه وشو پسرلے دے که آشنا را وکتل

دنیا را ته ګوری د کتو نه وو تم
چې تا نه مې کتلی دی هر چا را وکتل

په مخه باندې راغلې مخ دې خله پټوه
کړه غم دې را ته جوړ چې دې په شا را وکتل

دستی مې ورخندل هم دا مې وه ارمان
تا چې اے رقیبه په خندا را وکتل

یوه دم مې زړه نه شو لوهمزولو خاندګی
خاطر چې غریبو نیولی په ژړا را وکتل

[illegible]



د ستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګے په سر لمبې واخستم

لاس خو مې رانه کړه چې مخ پټوی
ګوری یاران مې د غم شپې واخستم
دا د رته سوال کړم چې سوال نشم کړے
وا مې خله ته چې ستا اسرې واخستم
سبا مې بیا په زولنو کښې ګوره
نن مې چې فکر د کوڅې واخستم
سم دې د مخ په سبا پوه نه شومه
که دې د زلفو توری شپې واخستم
کور د ژوندون را ته یو پورې بنګاره شو
چې تصور د هغه دیرې واخستم
بس یادوم دې نور مې مه تنګوه
چرته مې صبر نشې غمې واخستم

خاطره ته او دا دنیا درې پوه شه
نه بس د عشق یوې قصې واخستم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

وروایه شم تا نه قربان څهٔ وکړم
نور ددې د پاسه پهٔ ځان څهٔ وکړم

تهٔ خو به کمځې د زلفو جوړې کړې
زهٔ په دې شلېدلی ګرېوان څهٔ وکړم
تهٔ خو چا ته نهٔ ورځې، خو زهٔ باغلم
څ یم ستا پهٔ در کښې مهمان، څهٔ وکړم
زهٔ به نور څهٔ نهٔ کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان، څهٔ وکړم
ستا پهٔ طمع ځان له پاتې شوے یم
ټول خو راته لاړل یاران، څهٔ وکړم
پوه دې چې پهٔ ځان کړم اوس چې نهٔ پوهېږې
بیا به راشې نهٔ کړم سلطان، څهٔ وکړم
چا به دغم ټک ټوندون اخستے وهٔ
بس خو چې پیدا شوم انسان، څهٔ وکړم

اوس خو زهٔ خاطر پهٔ څهٔ پوهېږم نه
تا چې کړمه داسې میران، څهٔ وکړم



باغ د مینې دې د خیال پهٔ کښې غوټۍ کړم
ستا د مخ پهٔ تصور کښې تماشې کړم

بل به نهٔ وی یاره ستا غوندې کښې حُسن
شعله اور د خپله لاسه در پسې کړم

ستا د مخ کتاب د زړهٔ پهٔ سترګو کوم
پهٔ ځان تېرې شپې او بدې را خورې کړم

زهٔ خاطر خو یاره ستا د مخ کتاب ته
بې لهٔ تا نه پهٔ خپبر کښې ودنګې شپې کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زۀ لکه د موم پۀ شان دیدار ته اوبۀ کیږم
پرې ده چې او بۀ شم ستا رخسار ته اوبۀ کیږم

چرته شی خوبونه شپې پرې ستورې محفل جوړ کړی
همدا ې مشغولا شی ستا سینګار ته اوبۀ کیږم

زۀ پرې ښۀ پوهېږم ستا لیدل زما اجل دے
بیا ې هم وار نۀ شی ستا یو وار ته اوبۀ کیږم

اوس خاطره ولې خدای پۀ زړۀ کړم دومره سخته
بیا چې پس لۀ مرګه ستا مزار ته اوبۀ کیږم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



ستا پۀ اُلفت کښې به هوښیار نۀ شم
څو چې د عقل نه وزګار نۀ شم

سود ې د عشق پۀ لېونتوب نۀ شی
څو چې رسوا دې پۀ بار بار نۀ شم

یار ې وفا دې ماته هله وائی
چې تر ې لۀ سر او ماله زار نۀ شم

څو چې پۀ تورو خاورو موړ نۀ شم
موړ به دې هر مره پۀ دیدار نۀ شم

کۀ د منصور غوندې پۀ دار شم اشنا
دا ستا لۀ عشق به توبه ګار نۀ شم

خاطره ! داسې ګذار عشق راکړی وُ[1]
چې بل ګذار ته به بېدار نۀ شم

[1] [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

واخلمه تا اوکهٔ دنیا واخلم
پهٔ خندا خرنګه ژړا واخلم

لږې دې پورته کړه د مخ نه زلفې
لږه سودا چې پهٔ دنیا واخلم

ته چې پهٔ سترګو کښې مسکۍ شوې ګلې
نهٔ دې د ردې مینې بلا واخلم

تا ته چې ګورم پهٔ دود زړونو کښې شم
یو قدم مخکښې بل پهٔ شا واخلم

مرګ او بېلتون را ته چوپړه راغلي
خاطره دا واخلم کهٔ دا واخلم

○



○

غوږمه چې نه یږم په ځوانۍ پسې زهیرېږم
خدای نده نهٔ پوهېږم چې ساده شوم که پوهېږم

نهٔ اولهٔ تا تنګ داسې کله چې رته شوې
دعمره خو پوهېږم چې قدم اخلم وډ درېږم
تهٔ او ستا بنا ښت چې په ما څنګه خفګه کړې شې
مهٔ کوه ایله نن دهر څهٔ سره جوړېږم
نهٔ یمه خوشحاله ستا په غم کښې خفه مهٔ شې
خدای یې پخلا مهٔ کړه چې لهٔ تا . مرورېږم
شان یې د کړه و نهٔ وي خو چې زړهٔ یې شي را پورته
تا ته چې نهٔ سوال کړم د خپل ځان ځنې شرمیږم
غوښتهٔ یې هم دا چې را ته وواې چې درومه
خدای خبر چې بیا دې پهٔ پلوٗ د رښکاره کېږم
تهٔ کهٔ په یو خلهٔ لهٔ ما خلاصېږې نو یې واخله
تهٔ به را ته نهٔ شې کتے څهٔ له خفه کېږم

څنګه ما خاطر در ته دا وو چې یې هېر کړه
پېږنده چې یې وا ره په هر ځای کښې در یادېږم

---

میا شتنۍ ٠ قند ٠ مردان . خسرو محې ګټه ۱ ر کالنیز نمبر (ص ۹۵)

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خوشحالي ستا شوه زه يې نه اخلمَ
د ستا غمونه واړه زه اخلمَ

تا يې چې زړه د وړه ګواه هم نه لرم
اوس به له تا نه خنګه زړه اخلمَ

اول سپرغې وم ستا د مينې د اور
اوس په ځان پوره شوم چې لمبه اخلمَ

په وړاندې دې ځم په دروستو کوم اشنا
زه قدمونه چې واړه اخلمَ

هر مره ګرد ونه په خاطر دې د غم
په اسوېلو کښې چې سباله اخلمَ

○

---

له منزل لرېدو کښې د النظار غضرونه د مه چې صحيح نه دے .



○

لکه ګلې چې په اغزو کښې وينم
داسې يې زړه ستا په بڼو کښې وينم

رخسار دې وينم تورو زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې په تيارو کښې وينم

ګلفامه څوک له لرې او سې له ما
زه دې د نم په پلوشو کښې وينم

وستا ليدل تېر شوے خوب وه اشنا
بيا به دا خوب په کومو شپو کښې وينم

اے د سبا ستړګې باخبره په ورو
تلهٔ د اشنا دې په ختو کښې وينم

زما خاطر خاطر دې اوړ کښې وسو
اوس يې لمبې په اسوېلو کښې وينم

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

په دې دُنیا کښې مسې شپې تېروم
لکه مېلمه یو دوه غړې تېروم

په ما زهیر مهٔ شې خو مخ ښکاره کړه
په زړهٔ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تهٔ کوې چې غم نهٔ لرې
زهٔ لېونے یم چې تنګسې تېروم

دا نهٔ خاطر ستا د خاطر د پاره
په خپل خاطر د غم چپې تېروم

○



○

اشنا که تا ته په کتو پوه شوم
نو بس په ټوله تماشو پوه شوم

پس خو معلومه شوه چې نهٔ راتلوې
ستا د دروغو په وعدو پوه شوم

یا د ساقي د مې خوند نشته دے
یا زهٔ ایله اوس په نشو پوه شوم

سوے به هم د خاطر زړهٔ وی داسې
زهٔ دې د مخ په سرو لمبو پوه شوم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



قسمته راسې دې ورده کړم چې بېدار نه شوم
بغیر له تا ستا د غمونو نه وزګار نه شوم

په دې دنیا کښې به غم ستا له ژوندونه خلاص نشي
لېونم غوندې ګرځېږم خو یوځل په کښې خمار نه شوم

ستا په الفت کښې هغه خوب چې ما لیدلے اشنا
د رقیبانو د جبر ګوځنې وېزار نه شوم

ته چې راکړې زه به هغه وخت په طمع ومه
یو ځل هم مونږ د ستا د خولې په بنه ګفتار نه شوم

هغه وعده چې تا په سترګو کښې وه ماته کړې
رانه خاطر دې د وعدې په انتظار نه شوم

نور په زړه کې نه ځائېږی چې څه وایم
رانه بیا مرورېږی چې څه وایم

که څه نه وایمه هم راپورې کږی
په دې هم راته قهرېږی چې څه وایم

د هرچا په لورې خمه داسې وخت دے
بیا مې وخت کله تېرېږی چې څه وایم

که خبره نه وی مانه خبر دے خبر دے
بیا خپل حسن نه خبرېږی چې څه وایم

وېره بنه په تا پوهېږمه خاطره
خو بس سترګې مې شرمېږی چې څه وایم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته به ګرځې مسې بنګلے زهٔ به مرېږم
چې يې اوس وکے لبن ليدلے زهٔ به مرېږم
جنازه يې چې له کوره کړې ته درومې
ته به نهٔ وې راو تلے زهٔ به مرېږم
خداې د پاره پهٔ مزار يې چې را درومې
لږ شه ماته پښه نيولے زهٔ به مرېږم
زهٔ به مړ شمه قرارې مرګے ورک شه
سره خاندې به تهول کلے زهٔ به مرېږم
وچې ترغې به پهٔ ما وی با ذرغرځې
وی مزار به مې مُنبلے زهٔ به مرېږم
اے اشناچې دې وطن له ته رادرومې
خرخېبر خو دې ليدلے زهٔ به مرېږم
خرې خاورې به پهٔ ما باندې انبار وی
هر سړے به دروی غلے زهٔ به مرېږم

د کاکل پهٔ ختمه بند د مخ کتاب کړه
ما خاطر پهٔ خداې سپارلے زهٔ به مرېږم



بنګلی مخ ته دې د موم پهٔ شان اوبهٔ يم
لکه کاڼے مسې کلک ورته پهٔ زړهٔ يم

چې پهٔ کومه لاره لاړ شې زهٔ يې مل يم
لکه ګرد يې مسې خور پهٔ هر يو پلهٔ يم

زهٔ پهٔ کومو سترګو ځان ته بيمار وايم
چې د سترګو اخستے شمه نو بسهٔ يم

ستا ليدل لکه د خوب ليدل دی يارهٔ
پهٔ دې خوب پسې لا مغشې وُدهٔ يم

لږ د ځان سره پهٔ زړهٔ کښې فکر وکړهٔ
زهٔ خاطر دې چرې يو ځلې پهٔ زړهٔ يم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



کوره چې رنګ مې سوې سکور نه يم
طاقت مې نشته ستا د زور نه يم

راځه د سترګو نه مې مه وېرېږه
سرې په ژړا دې غځه مېخور نه يم

دې اسوېلو ته مې ته نه ګورې ځه
سوې په اور يم سوې لور نه يم

ستم کوه ته منع کړې يې چا
زه لا خاطر مرې دګور نه يم



سپرليه نه دې په غنچو کېږې نه يم
عادت په داسې تماشو کېږې نه يم

که داکومې نو سم شراب راکړه
نه دې ساقي هسې اوبو کېږې نه يم

اے خدايه بس ماځپله ورځ وليده
د داسې ژوند په تېرېدو کېږې نه يم

د ستا بانه د ستا رخسار په خاطر
يې دګلونو په نازغو کېږې نه يم [۱]

ته ما خاطر ته هسې ست خبر وکړه
چې خفه نه شې په در تلو کېږې نه يم

۱ منزل رسيدلو ديوان کښې دا بيت د غزل وروستو بيت دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا د منزل په منزلونو کښې یم
د دیدو په امیدونو کښې یم

نه مې دنیا نه مې عقبا ککېږي
دغې سودا او دا فکرونو کښې یم

د ستا رخسار به مې هېر نشي اشنا
ګله د بهار په سرو ګلونو کښې یم

زما په زړه کښې خو هم ته یې اشنا
دا نه خاطر که د چا زړونو کښې یه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



یاره ستا مینې په اور سېزلے یم
دروغ به نشه په زړه داغلے یم

خودم قسم چې تر هغې پورې ژوندے یم
ډېر دې نه په تش دیدن ساتلے یم

همېشه سر په زنګون په غم کښې ناست یم
یاره تا کله خوشحال لیدلے یم

خوار خاطر ولې چې دا کومه ګناه ده
چې له در دې بېنوا شړلے یم

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ژوندی کله نهٔ ماپهٔ دی بې لهٔ خاورو
نهٔ ماپهٔ دی نهٔ ساپهٔ دی بې لهٔ خاورو

چا چې خاورې ځان کښلې په ژوندون دے
هغه چرته کښې وُدهٔ دی بې لهٔ خاورو

د انسان سره چې غم مل شي نو کلک شي
دیوال کړے چا وبهٔ دی بې لهٔ خاورو[1]

د خاطر رنګین غزل ته حیرانیږم
په دې خرخښې کښې څهٔ دی بې لهٔ خاورو

ـه متن لیدنه او دیوان کښې د (لهٔ) په ځای مصرعه (د) لیکلې شوې چې صحیح نهٔ دے
ـه متن لیدنه او دیوان کښې غلطه مصرعه داسې لیکلې شوې ده :
دیوال کړے بې اوبو دے چا لهٔ خاورو .



خود به نهٔ ژوېږي مه په سرو سترګو
تېرو تمه ستا په لېونو سترګو

مهٔ تووره توری بلا سترګې دې
پام چې در ته نهٔ شي د سپینو سترګو

عمر له یې کار وي د ژړا سره
وهٔ چې کوري چا ته په معمور سترګو

بس کړه د خاطر سره ښکلا شه تهٔ
خلق وپر عزت کړی د نېو سترګو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به څهٔ یوسي زما پهٔ تورو سترګو
زړهٔ دې وړے لا پخوا پهٔ تورو سترګو

کهٔ پروا کړمه خو زهٔ به دې پروا کړم
نور دې څهٔ کوې پروا د تورو سترګو

ډېرې سترګې مې د سترګو پهٔ هر لور شي
کړم دې داسې وارخطا پهٔ تورو سترګو

کړې مې سترګې ستا د سترګو قدر دومره
ور به یې نهٔ کړم د دنیا پهٔ تورو سترګو

زهٔ خاطر دې د ګجلو سلامي وے
ښکلولے دې اشنا پهٔ تورو سترګو



بیا دې سخې نهٔ کړم پهٔ هغو سترګو
یو ځلې هم هغسې په مړو سترګو

نهٔ مې شته په نورو سترګو شک د زړهٔ
بس خو زړهٔ مې غل دے ستا د غلو سترګو
زهٔ یې کړم آشنا لهٔ شوګیرو سره
یو مې پل خوبونه ستا قدو سترګو
نهٔ یم چې د زړهٔ په سترګو تا وینم
چارنا لیدلې په ړندو سترګو
خپل مې واړه بد راځي په سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د ړندو سترګو
ستا دې اوبدو وروځو ته حیران یمه
ځومره ښکلې ښکارې په دې دو سترګو
خبر دے دا زما سترګې خو بدې شرې
تهٔ خو را ته ګوره په دې ښو سترګو

خومره ترېخه وروځې دې حیران یمه
سترګې د خاطر ستا لهٔ مړو سترګو

ریډیو پاکستان پېښور (مسودات)

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ما د وصال په شپه کښې تروله شپه سحر ليدلو
حال مې د ځان لکه مجنون هسې اوتر ليدلو

دريغه چې شپه وه د وصال خو تر قسمته پورې
زه په ديدن نه مړېدم چې مې دلبر ليدلو
بيا د سحر غمونو هله لېږے کړمه زه
سې ماښام مې نمر اوچت د غره په سر ليدلو[1]
نه يې لا هيڅ په سرو لبانو باندې نه يمه پوه
لا په اسمان مې چې د لمر په ځاې قمر ليدلو
په تصور کښې مې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشر ليدلو
چې مې را ياد کړل هغه تېر د جدائۍ وختونه
له غمه ډک مې تر سحرې پورې اختر ليدلو[2]

خاطره بس کړه د وصال طمع پيدا شوه د يار
وائي ربار چې مې جانان دې سرور ليدلو

[1] منزل‌ته او ديوان کښې چې دغه لرغي معنۍ مصرع داسې ده:
د ماښام سره ... نمر مې اوچت د غره په سر ليدلو

شوق مې ستا د ږېرو پېغورونو سره لاړلو
زور مې شو اوبه د ستمونو سره لاړلو

خوبن مې اننګي شول د ښنو ازغي مې مېر شول
زړه را نه بلبل شو د ګلونو سره لاړلو
وړې مې کړې تېنګې خو اخر مې اوښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو سره لاړلو
سترګې مې نيولې ستا د مينې په کاروان کښې
لاړلو نظر مې د ګردونو سره لاړلو
زه تر بڼه لوګے شم چې به څه سوے ترې راشي
زړه را نه د يار د ديدنونو سره لاړلو
چرته واسې يار شته لکه زه په انتظار يم
ستوړے د سبا هم د فکرونو سره لاړلو
چرته به زما لېږے زړه پرې مشغولېږي
ستا د تورو زلفو د زنځيرونو سره لاړلو

څو به دې مهار د عشق نيولے وي خاطره
ژوند د رڼې هسې د وختونو سره لاړلو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

باد شو مه د عشق د ګر نګونو په سرونو
په بوتم دلبرې وطنونو په سرونو

د بخه چې د ستا د اننګو خوله هم نه وي
پرخې ته چې ګورم د ګلونو په سرونو
ستړګې به زما شي اخر غرقې په ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ د ګرداببونو په سرونو
مات په ما نظر کړه چې سپهر ستړګی حق حیران شي
درد چې کړه د لوړو محلونو په سرونو
هسې هم ایږې یمه د باد سره الوځم
سکون مې خله نیسي د زخمونو په سرونو
ځان به خاورې نه کړم غم د یاره کله څوړ پریشي
خاورې دې پرې وي د تېغونو په سرونو

بنګلي به سر ټیټ کړي یاره ستا په تصور کښې
د بر خاطره ستا د غزلونو په سرونو



څو به سره پټ دواړه په زړه ذره ذره یُو
کله دا دې خوبنه نه ده چې صرچا ته دې ښکاره یُو

یو دغه بېلتون دے چې عزت مو په کښې پر دے
څو به په کښې وایو چې مدام دې در سره یُو

ته زما په سوي شمعې نه ستا په انتظار کښې
هر کله چې وی نو مرو به دواړه په یو شپه یُو

نه به کله وایم کله دنیا په بله واوړی
ګرځی دې نور خلق مونږ په خپله تماشه یُو

یوځ به مې سوګند شي په کښو ورځو د یار
اوس به دواړه څه رقیبه تود چې په اوبه یُو

راشه مرور چې مې شک له خاطر وځي
وایو به رښتیا چې دا په څه سره خفه یُو

د دیوان او متزلزل ند کښې سوی پسو ... [illegible] شري د چې معرکه یې ورزند اوږ معنی کوی
مه دا شعر متزلزل ند کښې نشته.

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ځکه چې ژن په سوزېدو تېر کړه
چې مې ژوندون په مسېدو تېر کړه

زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
زړه مې له ټولو مرحلو تېر کړه

دلسوزی مه ګڼه تپوس همدمه
زړګی مې عمر په لمبو تېر کړه

زما دا تېر ژوندون زما خو نه وه
ټول مې د ستا په تلو راتلو تېر کړه

یار بیا د چا له تورو زلفو نه ګورم
یوځلې مرګ راباندې دو تېر کړه

لکه د شمعې بېکا ستا په طمع
ټول انتظار مې په سلګو تېر کړه

زه چې سپېلی ته ورخېږ نو یمه
ما د دیدن په رنګینو تېر کړه

ژوندنده د عشق لمبې ژوندي ځه دی
سر مې له واړو ګړنګو تېر کړه

اشنا د ستا د ښکلي مخ په خاطر
ما خپل خاطر په سرو لمبو تېر کړه

بنه شوله وېره چې انکار دې وکړه
زما د واړه عمر کار دې وکړه

خلق چې ښه ولې ګوري ورته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړه

د زړه زخمونه مې بیا هله شماره
کړه د دې خپلې خندا شمار دې وکړه

زه لا خفه نه وایم چې داغ مې په زړه
ته لا خفه یې چې دیدار دې وکړه

خاطره زه له تا نه چا وېرې یم
وار به دې راشي کله لپ وار دې وکړه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته
خو تصوير وم ستا پهٔ ورو څو کښې محراب ته

ما وې تل به خوشحالي وي ستا پهٔ عشق کښې
اوس مې نهٔ پرېږدي غمونه اشنا خراب ته

ستا د سرو شونډو ارمان خو صله راشي
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

يو ذره يې لرې نهٔ کړلو د مخ نه
فکر يو وم د اشنا د مخ نقاب ته

نور يادونه مې پهٔ ياد کښې رانه هېر شول
يو دوه نهٔ راځي چې کښېنمه حساب ته

والې زړهٔ به زما هم داسې تک تور وي
چې خاطر وکړم نظر سرې کباب ته



زهٔ يمه حېران د دنيا سترګو ته
ګوره ګټې نهٔ شي د چا سترګو ته
ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلا سترګو ته
راشه اهو چشمه ليونے شومه
سترګې مې صحرا دي د ستا سترګو ته
ستا چې خندنو سترګو ته ګورمه
راځي شي لهٔ واره ژړا سترګو ته
راخو دې پهٔ خپله اشنا کړې دي
څله مې نهٔ ويل کړې اشنا سترګو ته
ستا خندا برېښنا وه د فلک غورځندې
بيا را نغله صفه د ژړا سترګو ته
تا جوړې ارادې د راتلو کړې دي
ښکارې مې رنګينه فضا سترګو ته

نن خو مې خاطره ستا خاطر وکړو
بيا به نهٔ راځي دې سبا سترګو ته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته چې رقیب ته اشارې کړې دا د مل نښه ده
ته چې دا غلې غلې کړې دا د غل نښه ده

کله یقین کړمه په دا چې مرور یې له ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښې د چل نښه ده

ته چې تپوس را نه مدام کړې چې څه لټوې؟
زه چې دا لاس په سینه ږدم دا یې اول نښه ده

خاطره تا چې بېګا خوب کښې د هجران لیدلے
یقین مې دا دے اخري ستا د اجل نښه ده



خوانه تراخه شي د خوږو وصلې نامه پاتې ده
د بدو شپې دي او د ښو هسې نامه پاتې ده

ته را نه هېر یې خدایه هر څه په دولت کړمه
د دعا ګانو د ښېرو هسې نامه پاتې ده

په سترګو ژاړو او په زړه کښې سره خاندو اشنا
مه کړه ګیلې د زړه بدو هسې نامه پاتې ده

په دېره مینه کښې چې زه او ته پرې نه پوهېدو
د هغې ورځو او د شپو هسې نامه پاتې ده

چې په پلو کښې به یې په زړونو پاندې اور لګول
د ستا د هغې اننګو هسې نامه پاتې ده

سبا به وائې چې د خدای په خاطر راشه لږه
په ما خاطر کښې د ژوندو هسې نامه پاتې ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



بېګا ستا په انتظار يې مسې سترګې تر وله شپه کړې[۱]
خندل راپورې سترګو چې سپوږمۍ راته ګيله کړه

ورته سر په زنګانه وم د وصال تږی ته غلی
ما به ګله ګله بنه کړه چې بېلتون راته قصه کړه

شو په منده نظر ستا چې هر ستوری به جلب کړه
چې د ستا په لور به تللو هغه ستوري به مزه کړه

ورسره به يې زړه وچوی که شپه وچوی د خاطر نه
په ټپا ټپا قدم شي خو وعده يې ستا پوره کړه

۱ صحيح مصرع داسې په کار ده : خندېدل راپورې سترګو چې سپوږمۍ راته ګيله کړه



لرې د نقاب لرې کېدل زده کړه
زما په لوري سم کتل زده کړه

په چار خندا به رقيبان پوهه شي
پټ په لېمو کښې مسېدل زده کړه

اے زړه چې سم دا وارې ونه چوي
ټکه تنها که ترکېدل زده کړه

ته ما خاطر ته نصيحت مه کوه
ناصحه مانه پوهېدل زده کړه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په شوګير تا په خوبې تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته په ګيلو تېره کړه

بېګا رانغلې شمع دوې اشنا
ما ټوله شپه په دربدو تېره کړه

مينه د ستا زما نوي زړه سوزوي
هسې لمبه دې په اېرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا له خاطره اشنا
د هجر شپه مې په سلګو تېره کړه



رقيبه په خبر راغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نوې بس هم دا خبرې کړه

څو به پټې سترګې زه د اوښکو ګرځم
ګلفامه راشه راشه دغه بيا خبرې کړه
نورې د اغمزې د جفا خبرې پرېږده
کله کله يادې د وفا خبرې کړه
سود مې کله کېږي د ساقي په پېمانو
د ټولې ميخانې او د مينا خبرې کړه
نم مې شو د سترګو سپين د اوښکو په سيلاب کښې
بس نور شه راته وايه د خندا خبرې کړه
په خود نه يم تېروس راځي مه کوه ددهر
اشنا ما لېونی ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې ونه کړې د بل چا د غم سودا
د يار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې وباسه
یا خو ترېخ زما له خلې وباسه

یا مې د زړهٔ رازونه مهٔ لټوه
یا دې صحرا ته قافلې وباسه

څهٔ لنډوه تنګه دنیا که شوه دبه
زر مې د ژوند له لاسه ځې شپې وباسه

د اَشنا یاده نور مې مهٔ تنګوه
لهٔ دې سرای نه قافلې وباسه

اور د خاطر د زړهٔ په خونه شو بل
سترګې د سترګو نه یې مرې وباسه



د سحر باده دا ارمان یوسه
بوسه پهٔ لوری د جانان یوسه

راشه ارمانه دا اَرمان دې لرم
کهٔ څې خو ما سره د ځان یوسه

چې دې د حُسن چمن تږے نهٔ شی
راشه د اوښکو یې باران یوسه

تهٔ چې مسکے شوې زما زړهٔ ته ښکلیه
دا د غمونو ډک جهان یوسه

خوبه زر راشه د اَشنا سره
دومره خو راشه دا چشمان یوسه

لږ د خاطر کړه شمع روڼه خاطر
بهار دې راوله خزان یوسه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


○

تکه کلی له سپدو ډکه شه
بانړهٔ دابغ کره له اغزو ډکه شه
چې ستا خوږو زلفو ته نږغه نهٔشوه
زما ښکلی له زولنو ډکه شه
کهٔ یې هر څو درسره فندیولے
خو زما مینې له پښتو ډکه شه
چې یې ژوندون له رنګینونه ډک شي
بیا پهٔ غصه کښې له نښو ډکه شه
بس پښېماني له زړهٔ نه وباسه نن
وېرېږه مه له اشارو ډکه شه
چې تا یې هم ګرېوان ته ښيرې ووې
هم ستا کوڅه یې له تېرتو ډکه شه
ښهٔ دې زړهٔ تش کړه چې بیا بیانهٔ وائي
فضا زما له اسوېلو ډکه شه
بدخواه چې لاس پهٔ سینه کښېږدي درته
دخپې ښانګې له اغزو ډکه شه
خاطره یار دې پهٔ خپې کښې اوسي
تېوله دره له سپېلنو ډکه شه

○

○

ستا له سپینه مخه زار زما زړګے شه
هم دا ستانه سپېلنے او هم لوګے شه

ستا پهٔ ژبه باندې هره ژبه خوند کا
اے اشنا یا اېرېدے یا پښتو دے شه

زهٔ او تهٔ دچا ژړا او خنداڅهٔ کړو
زما اوښکې دې باران ته پسرلے شه

اوس دګل غوټې ته لرې شه رقیبه
یا پخپله باندې ګل شه یا ازغے شه

زهٔ خاطر دې نور خاطر کوے نشم
اے رقیبه کهٔ پوهېږې نو سړے شه

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د هجران په شپه ويوه په لاس کښې راغله
خداې خبر چې چرته تله په لاس کښې راغله

رقيبان خو دې اوس تهول راله راتېرشي
چې يار راغے نو وصله په لاس کښې راغله

چې مې صبر اُميد دواړه پسې خوړ کړل
چې لۀ ځانه خبرېده په لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصور يې يو ځېره په لاس کښې راغله

چې په تلو کښې شو مسکې نو بيا به راشي
اے خاطره بس راځه په لاس کښې راغله

○

○

ترخو ته چې نږه کېږي کله کله
په خوږو سره مړ کېږي کله کله

د دردمندو نظر هغوله په کار دے
چې دلاسه دې بنۀ کېږي کله کله

چې اشنا دچا نه ورک شي موندے نشي
پسې ځان مسې ورکېږي کله کله

ښکاري ياره سرود نۀ دے اے خاطره
په لېمو کښې چې اوسېږي کله کله

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د ښکلي مخ شمع چې مسره شوله
جلوه په محفل کښې تره شپه شوله

راشه لږه واوره د اُلفت قصه
بس دے نوره نه ده کښې چې نه شوله

وېرې وعدې ښې وی لږې لندې ې
اوس دې هر یو کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر و نه کړلو
ښه شوه وېره ښه شوه آشنا ښه شوله

○



○

بیا به سره ګورو اوس خوانی ده دروم دروم
څوک کړی دومره غم خو دیوانی ده دروم دروم

اوس ته ایله راغلې چې بس وخت د ځنکدن شو
بیا راته ګرانې آسانی ده دروم دروم

ولې یې چې بازار کې د ښاپست دے ګرم شوے
هر شے په کښې ختلے دے ګرانی ده دروم دروم

نه او ته خاطره نور په څه سره خوابه یې
مینه خو هم دا پښیمانی ده دروم دروم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

شکر چې نهٔ هم ستا د ښېرې شومه
اوس دې چې نهٔ ښکلیه د کوڅې شومه

نهٔ به په ځان خفهٔ وکړم چې راشې ته
واړه دې پهٔ طمعه کښې ذرې شومه

دومره درنږدې یم کهٔ څو لرې یم
لرې به شم نور کهٔ درنږدې شومه

نن خو دې خاطره چې سبا ته دوے
پوه دې نهٔ د مکر پهٔ وعدې شومه



کله چې پهٔ فکر کښې د ستا شمه
لاړ شمه لهٔ ځانه خو بیا راشمه

ته کهٔ لرې ضد نهٔ خو پښتو لرم
اوس در سره څرنګه پخلا شمه
خیال او تصور ته به سلام وکړم
نهٔ کهٔ د خپل زړهٔ پهٔ تماشا شمه
تاوې شي د زړهٔ نه ستا د مخ لمبې
کوم چې بستا د زلفو پهٔ سودا شمه
نورې دې د مینې لارې سمې کړه
خدای خبر چې کوم پلو خطا شمه
عشقه راشې ځای لره دې راوستم
اوس به نهٔ د ستا نهٔ د دُنیا شمه
نن دې د پرون وه د راتلو وعده
نن څنګه پهٔ طمع د سبا شمه

وړې غریو نیولې راکتلې دی
لږه بهٔ خاطر ته پهٔ خندا شمه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دلا ري خاوره شرم د ښېرو ځني وتلې يمه
اشنا په تا پسې له تلو ځني وتلې يمه

د آشنا مخه نور مې سرے ته وے نه شي
نه خو دا ورد او د اوبو ځني وتلې يمه

په ښه ښېره به دې نه لب وهم ناز به دم د اشنا
نه ؤ مې اوس پوه دے د ښېرو ځني وتلې يمه

تا خو به نور راته خندلي وي چې داغ ؤ وش
که په ژړا دې د کو ځو ځني وتلې يمه

دغه داغونه مې دي بس دومره خاطر مې وش
نور د کړلو د کلو ځني وتلې يمه



تو به خټکه ته رېږې په هوښيار باندې وختونه
نا پوهه هسې ته رکهل په قرار باندې وختونه

هيڅرې هم سخيان خو د سبا غمونه نه کا
له شرمانو نه ته رېږې په خرواړ باندې وختونه
دا ته وختونه پرېږده له انکار سره چې ته ترشو
ته راشه نور دې سم کړه په اقرار باندې وختونه
نه دے هسې کرم چې خوک په غم کښې درونه بنکاريږي
په هر چا باندې ته شي په خپل وار باندې وختونه
کوره دغو په نهو کښې نوره سودا نه وک
ته چې شي د ښکليو په بازار باندې وختونه
نکه باد هسې ته رېږې وخت په روغ او په بيمار
ودرېږې نه ودرېږې په بيمار باندې وختونه
دمغ دې تصور کرم خټکه مخ مې داسې تور دے
خبر نه يې رکهل ته مې په انکار باندې وختونه

ما خټکه به لټوئ کړے د دنيا له غم نه خلاص يم
خاطر ما ښکلي ته رکهل په خپل يار باندې وختونه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما په مثال لکه پتنګ وګڼه
ته دې د شمعې غوندې رنګ وګڼه

که مې کوثر شول نصیب د دیدن
بیا مې شهید د عشق په ننګ وګڼه

زمکه بستر وي لېمنو ته مُدام
زړګیه ته يې هم پالنګ وګڼه

لکه چې خومره ستا غمونه دي ډېر
پراته مې ټول په زړګي زنګ وګڼه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا دیدن په څان قلنګ وګڼه



د ستا د خولې چې فیصله ماته شوه
نوره د زړه مې حوصله ماته شوه

شونډې دې هسې د بېدلې نه وې
په زړه دې بله څه راتله ماته شوه
نو ړې ساقي څه جُرم نه دے کړے
تشه له لاسه مې پیاله ماته شوه
کله به عوض کښې يې هر څه غواړې ته
دا مې په برخه د سپېده ماته شوه
لاس مې يې واکه چې جامونو ته ځي
ما بنام څونه دے چې روژه ماته شوه

خاطره پرېږده د دروغو ترېب
نوره زما او ستا ناغه ماته شوه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


○

نور زهر په خوږو کښې د افسون مه راکوه
دا بس دے اشنا نور دا زهر چاودون مه راکوه

ته تل کړه ستمونه خو په خپله اے اشنا
سزا د رقیبانو په لعسون مه راکوه

چې خو وکړې وعدې نو هومره لاشې یې وعدې
دا دې وی درپاتې خو زبون مه راکوه

که زه چرې په خود وے نو په تا شیدا کېدم
په ستړګو ماله یار بیا د جنون مه راکوه

هر څو که زه خاطره د اشنا اجل ته مخ شوم[1]
دګوړ مبارکی خو په ژوندون مه راکوه

○

[1] دیوان او منزل دواړو کښې مصرع داسې ده : هر څو که زه خاطر د اشنا اجل ته شوم

○

ته خو وایه زه به څه کړم | زړګیه لېونیه
څه به کړم او څه به نه کړم | زړګیه لېونیه

تا خو وې آبادی پرېږده، ما خو پرېښوه دلته څه دی
په صحرا چې ګرځېده کړم | زړګیه لېونیه

چې اشنا کړې سترګې پورته بانه ستا په لوړ ولاړ دي
زه یې کوم طرف کاته کړم | زړګیه لېونیه

زه خاطر درته حیران یم چې په څه باندې راوین شې[1]
چې په څه دې اوس وده کړم | زړګیه لېونیه

○

[1] منزل دا او دیوان کښې (ورته) دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوږ ګړي شي کباب په لمبو اور ولګېدهٔ
په ما دے يک تنها کهٔ په هر لوري ولګېدهٔ

چې لري درنړي شوم د وصال په تمنا
د ستا د ګنګروکانو په ما شور ولګېدهٔ
خوږ ګړي تش ګوګل دے راشه وګوره تماشه
د سوو فريادونو تنګ تڼکور ولګېدهٔ
زړګيه اُميد لنډ کړه پس له دې نو رله وصاله
بېلتون دې څواني مرګ شي اوس يې زور ولګېدهٔ
سپين مخ دې رابنکاره کړه د نقابه لکه نمر
وربل دې پرې د وږمو غونډې خور ولګېدهٔ

خاطره خدای خير کړه بيا ديدن وګړې دياره[1]
چې بيا د غمازانو داسې زور ولګېدهٔ

اشنا وې دا لړګی دی د خاطر داسې پلو
رقيب وې ما زيګر شي په تڼاور ولګېدهٔ

۱ ـ متن له نغمه او ديوان خاطر کښې داسې دی: خدای خاطره خدای ګړي ديدن وګړې دياره
۲ ـ متن له نغمه او ديوان خاطر کښې ... شريه دی ... معنی بدلوي او قافيه غلطوي



لوے درياب د مينې نهٔ شي په واړهٔ زړهٔ
شومه ياره بيا د ستا غوندې په نهٔ زړهٔ

چې به خلهٔ کوی يوه او به زړهٔ بله
د هغهٔ سره به مينه کړې په څهٔ زړهٔ

سوی د رنګ ته مې لږ وګوره دلبره
ما نيولے ستا د حسن په لمبه زړهٔ

بېګا ستا په انتظار کښې شمع روڼه
د هر ستوري سره پورته مې خاتهٔ زړهٔ

بيا يې خوب واړه تښتونه او هيبت شي
د هجران چغې چې وشي په فُرهٔ زړهٔ

يو غم نهٔ دے چې يې وکړې اے خاطره
ډېر غمونه دی کوه يې په ساړهٔ زړهٔ

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



داسې بله شپه به په نصیب سره راځي
په عمر کښې راځي خو د رقیب سره راځي

خوشحاله وي په غم کښې هم[1] ابېداره شامطام
را دروي خوشحالي دې د حبيب سره راځي

څوڅې[2] په تندي يې د ازل ليکلي نه وي
دومره زحمتونه د غريب سره راځي

خنديږي او ګريږي سره ګلونه د صبا
نغمې چې د بهار د عندليب سره راځي

نور خلق که رغيږي په دارو د طبيبانو
خاطر ته مرضونه د طبيب سره راځي

1. متن کښې اول دیوان خاطر کښې المغلطه هم، نسخه کې مصرعه کې ورته امرې سمون کړی
2. څوچې، ترکیب مصرع کې معنی کړی



عکس د ستا زما د سترګو له زنبار نه وځي
د زړه له کوره مې بېلتون په يو ګذار نه وځي

دا ستا کوڅې له زه د دوږخ ځان په خيال نه درځم
چې تاو را تاو نشي د ستنې سوم نه تار نه وځي

اے شمع د ويه راشه نور دغه ضدونه پريږده
چې په مئين دې هره شپه د انتظار نه وځي

د ستا د عشق په سمندر کښې مې ژوند تېرېږي
چې په ربښتيا خو سمندر وي د انګار نه وځي

شپې د اوښکو د خاطر پسې ايله زياتې شوې
ښکاري د ستا د ځوانۍ اوبه د شو بهار نه وځي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې کتې در ته لاړهٔ په هجره نهٔ شم
د ستا سترګې مې کوږې د نړۀ نه وځي
خداې دې هغه وخت را نهٔ ولي صنمه
چې مې ستا د دیدن شپې د نړۀ نه وځي
کهٔ د سترګو نه مې وځي د ستا سترګې
وې وړل کهٔ مې جرګې د نړۀ نه وځي
موده پس سره یو ځاې شو په محفل کښې
ستا بانه مې ښن نیزې د نړۀ نه وځي
جمع نړۀ له اشنا چې زهٔ د ستا یم
چرته زلفې مې خورې د نړۀ نه وځي
د مخ لرې کړه پلو زهٔ دې لونګے یم
چې مې ستا د مخ لمبې د نړۀ نه وځي
تر هغې به دې رقیبه نړګے وچړی
چې خاطر د معشوقې د نړۀ نه وځي

نړګیه تا وې چې دردونه څهٔ دی
دا په ګوګل کښې دې ترکونه څهٔ دی
نړۀ په ښو مې وله څوک یې وینی
وهه وهه دا سترګکونه څهٔ دی
بس خو کهٔ مخ دے نو ګلفامه دے ستا
دا د خورشید قمر مخونه څهٔ دی
نهٔ ده اسانه اشیانه مې د نړۀ
لا د ستم دې تندرونه څهٔ دی
د ستا منزل دې دومره نور لرې شی
ګوډ ورندو ته تیندکونه څهٔ دی
کهٔ مې ذرې کا نور نو لا به ښهٔ شی
ستا په فضا لا وسعتونه څهٔ دی
چې مرور وی یو ساعت یې ګوره
چې وی پخلا نو بیا ګلونه څهٔ دی
چې مرور یې پېښېدے څو نهٔ شې
ما ته په غلا غلا دیدنونه څهٔ دی
دا په خاطر ګلفامه ستا د شونډو
وی په خاطر دې پرهرونه څهٔ دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې پښېمان نهٔ شي پهٔ بیا کښې څهٔ دی
پرېږده راوګوره پهٔ دا کښې څهٔ دی

زما پهٔ اوښکو کښې خندا ده وړستا
یاره د ستا پهٔ دې خندا کښې څهٔ دی

شمعې د ښې شپې نه سبا جوړه ده
سبا به مړه وې په سبا کښې څهٔ دی

ژړهٔ مې یې ستړے پهٔ تورپونو کړلو
ګله دا ستا پهٔ دې ګړوا کښې څهٔ دی

خاطره تهٔ چې ماته نهٔ شي کتے
لږه مې پوه کړه چې پهٔ ما کښې څهٔ دی

ګله د ستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شېبو شپې دی

پهٔ دا لمنه تنګ وخت کښې مې حال وپوښته
دا مې د ژوند د تېرېدو شپې دی

پهٔ تا اختر اوس دځوانۍ راغلے
دا تورې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپوږمۍ تهٔ به راخېژې ګله
اوس مې د ژوند د محفلو شپې دی

دا زهٔ خاطر د رنه تپوس کومه
د بېلتانهٔ دې نورې څو شپې دی

خاطر د وېنو غرغرې وکړلې
دا مې د ژوند د ختمېدو شپې دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د ستا په غم کښې خوشحالۍ پټې دي
په دې زندان کښې ازادۍ پټې دي

زړۀ کۀ تۀ غواړې نۀ لېونے خونړیم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي

په خوږو زلفو کښې راګورې په چل
په دې ځنګل کښې دې هوسۍ پټې دي

په کومو سترګو به بیا بیا د رخمه
په اشارو کښې دې تهکۍ پټې دي

خاندې چې چوړې شول د نړۀ زخمونه
ایله په وینو کې خوږګۍ پټې دي

څۀ شو په خوله چې دې رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلۍ پټې دي

په سرو سرو ګورم تورو سترګو ته دې
چې په کښې څۀ بلا مستۍ پټې دي

ستا له سینګاره چې ښوانۍ شه لوګے
وېرې په خادو کښې ښوانۍ پټې دي

د ستا په خیال زما خاطر ښوا یږي
خو د امید په کښې سپرغۍ پټې دي



زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نۀ وینمه سترګې کۀ هرچرته سترګې دي

له هره دره وړ تلې سترګې مې آشنا
کۀ وړې دي کۀ تړې خو دې در ته سترګې دي

نۀ تل را ته مرسته په دې عمر مۀ شه جوړه
زما خو هم ګلفامه دې پرهر ته سترګې دي

د مینې سمندر ته سترګې غرقې مې کړې تا
وتلې مې له تا کله بهر ته سترګې دي

په اوښکو مې کړه سترۀ وړه وړنه مې د عشق
کۀ ګل مې د مخ رڼې خو ثمر ته سترګې دي

را وۀ چې خبرې شه وړه په وخت سترګه د سبا
زما خو هم ختلې دې سحر ته سترګې دي

خاطره کۀ خو غواړې نړۀ له تا د یار دیدن
نۀ نۀ شم ورکړلے زما نظر ته سترګې دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نن خو ما ته هسې بله دنیا ښکاري
تا چې نۀ وینم نو خله دنیا ښکاري

تنګ کوګل یې د دنیا شي چې ته یاد شې
بې تا تنګه لا کوګله دنیا ښکاري

بې له مانه هسې کله صحرا ښکاري
بې له تا نه هسې کله دنیا ښکاري

چې په هجر و وصال نه پوهېږي پوهېږم
دا وستا ده کۀ یې خپله دنیا ښکاري

هېڅ خاطر دې خزان و نۀ کړو خاطره
څنګه خپره او بې ګله دنیا ښکاري



زړۀ چې کۀ هر څو رانه هر څۀ غواړي
هېڅ نۀ دے خبر چې هر څۀ زړۀ غواړي

اے ماشومه زړۀ تۀ رانه ښۀ واخې
مخه رانه غواړې چې ما نۀ غواړې
تل به بې پروا وې ګړنګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسېدۀ غواړي
زړۀ او د نظر ځنې دې خلاص کړمه
نور دې لا بنا بست راځنې څۀ غواړي
هر سهے دستا د دیدن وږی نۀ دے
راخو هم زړۀ غواړي هم لیمۀ غواړي
خبر نے کۀ زهیر شوم ځان ته ګران شومه
بد هم په کښې وي چې څوک یې ښۀ غواړي

خلق پرې تېر شوي لۀ سرونو نه
ځلۀ ورنه خاطر په تشه ځلۀ غواړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زما زړهٔ او د ستا سترګې سره پېږي[1]
نور به بدکا چې په دې منع کښې ځانېږي

کهٔ خبر نهٔ راکوې خبر دے ښېږي مهٔ کړه
مئين زړهٔ مې ستا لهٔ مينې نهٔ صبرېږي

کهٔ دې غم په ما انبار وي پروا نشته
د ګلونو لاندې ځانګه نهٔ ماتېږي

چې مې ورتې اشنا واٸي خفه شوې؟
زړهٔ مې ښهٔ شي په ګوګل کښې نهٔ ځاٸېږي

زهٔ خاطر داسې هيبت ستا د راتلو کړم
لکه پاڼه چې په ونه کښې رپېږي

[1] پوهېږي



ما وې تهٔ به مې زړهٔ وچوې خو دردونه دې تېرېږي
پېرې ده خندهٔ کړې تپوسونه خو وختونه دې تېرېږي

جوړېږې تا اراده کړې د راتلو زما په لوري
نن مې سترګو ته د وړاندې مثالونه دې تېرېږي

جانانه زهٔ چې زغملے شم کهٔ وي د ستا د لاسه
هر غم کهٔ ستمونه طوفانونه دې تېرېږي

ستا د حسن په بهار کښې يار نورې رنګينۍ شته
[1]د دا دهر په خاطر باندې غمونه دې تېرېږي

[1] متن لرغونه د ديوان کښې دا لفظ نشته چې مصرع يې بې معنی کړې ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه چې پرې په ما زما د یار سره جوړېږي
خپ دے زما زړه د انتظار سره جوړېږي

کله په یو رنګ شي بیا سل ځل په بل انداز
سل ځلې دیدن د خپل خپل وار سره جوړېږي

وګوره واړه خنګه په سترګو کښې اقرار کا
بس خو د یار شونډې د انکار سره جوړېږي

څه په خاطر کېږي نن د بنګلیو په صفت
هغه وخت راغلے دے چې دار سره جوړېږي



د وخت د ګذارېدلو مې داغونه نه جوړېږي
زما سره سپرلیه ستا ګلونه نه جوړېږي

یو ځلې یې ودان کړے ستا تصویر راله اشنا
عم مغضي زما هغه فکرونه نه جوړېږي
راضي شه د یار غمه د دُنیا د غم سره
یو کور چې د ګډ زړه په کښې برجونه نه جوړېږي
اے زړه ته راته وائې چې یار راشي څه به کړو
لا خو به څنې وړاندې تعبیرونه نه جوړېږي
زه خو یې اشنا لا د پخوا نه لېونے وم
د عمر لېونو ته زنځیرونه نه جوړېږي
زه تا ته په قدم کښې او ته ما ته وېې ولاړه
زما او ستا په منځ کښې پېغورونه نه جوړېږي

خاطره یو ورځ نه ده نن زړه جوړ او سبا وران
چې وېر کوي غمونه هغه زړونه نه جوړېږي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به ایله څهٔ د لبرنو نه پاتې کیږي
ګونده يې يو کړ دچې يې د ښونه پاتې کیږي

زړهٔ مې چې اشنا د ستا د تللو نه پاتې کیږي
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کیږي

پیغې مې د زړهٔ د لمن ورژ بدې لاړې
غم دې په کبې ډېر شو د نیوو نه پاتې کیږي

نهٔ بلېدهٔ هسې اور دمغ دي. دا مې زړهٔ وهٔ
ګوره چې به سکور د سرو لبو نه پاتې کیږي

تا چې په کږو وېښو د عشق بوتلم زړهٔ کیه
څنګه سې لاړې د ړندو نه پاتې کیږي



وی به مې ګواه سبا دا سپین سپین دیوالونه
دغه تور لوګی چې د ړیوو نه پاتې کیږي

یاد مې د دنیا لهٔ یاده مخکښې مخکښې سړی
څنګه به د ستا د یادېدو نه پاتې کیږي

باده د بېلتون چې مې په لوړی بیا را نهٔ شي
سترګې مې د یار د تماشو نه پاتې کیږي

زړهٔ له مې دارو دی او کجل مې د بصر دی
خاورې يې خاطره چې د ښېو نه پاتې کیږي [1]

بیا راغلله شپه او څلند ستوری یار را نغې
بیا به مې خاطر ش دخوبو نه پاتې کیږي

[1] د دیوان کتبو مصرع داسې ده: خاورې دې په خاطر چې د ښېو نه پاتې کیږي

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ستړګې دې کړه پرندې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې کړ دونه وارخطا شي

خو به کړې وعدې راته د ښې او د سبا
وېرې شپې وعدې کړه چې خوبونه وارخطا شي

زه درته لږ پاره په محفل کښې کښېنم شم
ستړګې چې راواړوې نو زړونه وارخطا شي

عقله چې يې ووينه زلفې تار په تار
بس خو يو کړ پوان ته يې لاسونه وارخطا شي

دومره اې زړګيه! ځان ته مه شکوه ښکلې
وبه چوي لږ واره که دردونه وارخطا شي

غلا سره د مينې په محفل کښې چې يو ځاى شي
زړونه وارخطا شي، چې رنګونه وارخطا شي

مل يې کړه د زړه مې که په خوله نه بيانيږي
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي

ځکه زه خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پرېږده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي

ميا شتنۍ «ژوندۍ» پښتو اکتوبر ۱۹۵۹ع

پهٔ ارمان د نادانه شي چې هوښيار شي
خوشحالي او خوب يې ورک شي غم يې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي يې پهٔ کار نهٔ وي
پهٔ ارمان د روغ صورت شي چې بيمار شي

پهٔ توبه باندې وېر بد ښکاري چې زړه شي
ښکاري ښهٔ چې پهٔ ځواني کښې توبه کار شي

لېونې پهٔ کاڼو لګي ورته خاندي
د هوښيار د ځنکدن پهٔ يو ګذار شي

خپله غمه د يار غم يې لښ مېلمه دے
تا به وکړه د وار وکړه که دې وار شي

تهٔ دې خپلې ستړګې وګوره چې څهٔ کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د دې دنيا نه چې ګلان ورک شي
غنې د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هيڅ نه ده
لکه درياب کښې چې باران ورک شي

هر مره چې سود په ليونتوب نه کيږي
چې په مشکل کښې مې ګريوان ورک شي

څوک به لټوه مه ستا ورک شوي پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي

○



○

چې يې رڼې دے د ليمو په پيمانو شي
سو دې کله بيا د لب په پيمانو شي

څوک چې خداى را کړے نه وي نو به ژاړم
د خيبر فصلونه تل په بارانو شي
که د ستا په نوم بدنام يم پروا نشته
ليونۍ غونډ نه تل په ليونو شي
زه د ستا ليونو سترګو نه ډار نه کړم
که خويونه دې د سترګو ليونو شي[1]
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس وې
دغه شپه د سپيلنې دوپاند پسو شي[1]

چې د نيه کوب ته دې نااشنې پرواه نکړه[2]
لے خاطره خاطر تل د مېلمنو شي

○

[1] که دا دواړه شعرونه منزل نه کښې نشته
[2] د ديوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده : چې د نيه کوب ... را غلو ... سپيرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې کوڅې را تاو شي
زما د زړۀ ځنې بسې را تاو شي

پۀ څرۀ پره لوپټه کښې تاو شي
لکه وړانه بربوکه را تاو شي

نۀ به مې بيا کړې لېونے د غرونو
نۀ به دا ستا سترګې هوسې را تاو شي

پۀ زړ بوږې خوبه وانۀ ويم لۀ تا
نۀ به خاطر ستا لۀ څوانه را تاو شي

وړاندې به مې دا ويې چې کاتۀ به شي
اوس چې پۀ ژوند پره شوم وايم څۀ به شي

وايم ستا بنږ ته د زخمي زړۀ نه
بس دے کۀ ويې داسې نو ساړۀ به شي

نۀ ومه لۀ داسې جدائۍ خبر
ما ويې پۀ ساعت کښې تلۀ را تلۀ به شي

وې کړو تپوس چې راځه څۀ غوارې
ما ويې چې کۀ راشې نو خرابۀ به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نۀ يې پرېږدي دوا پره سره مړۀ به شي

هر وخت چې ژړا کړې خندا نشته دے
زړۀ خو د خاطر اوبۀ اوبۀ به شي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خزان لاړ شی بهار راشی ګلان خوشحاله شی
بلبل یې د چمن وی بوراګان خوشحاله شی

نن خو مهٔ راګوره مخ دې بل خوا واړوه
پرېږده چې نا پوهه رقیبان خوشحاله شی

شمع چې بلیږی د محفل د پاره خاندی
زړهٔ کښې داسې وایی چې عاشقان خوشحاله شی

راکړه جفاګانې، ستمونه کهٔ غمونه وک
زړګے د خاطر وچوه خو چې خان خوشحاله شی



راشه په کوڅو کښې د جرګو خبرې نهٔ شی
چرته چې په مونږ کښې د پردو خبرې نهٔ شی

ډېره شپه ولاړه راشه چې لهٔ یو بل نه خبر شو
یاره په یو شپه د ټولو شپو خبرې نهٔ شی

وایمه لهٔ ځان سره چې دا به ورته وایمه
راچې شی آشنا په څو وصلو خبرې نهٔ شی

زړهٔ او ته چې وویښو لهٔ ورایه سره پوې شو
چا وې چې په سترګو کښې د زړه خبرې نهٔ شی

یاره ستا د هجر اوږدو شپو شکوې کړې یم
ګوره چې مې اوس په اسوېلو خبرې نهٔ شی

خدایې خبر خاطره زړهٔ بیا چرته تهٔ بیا چرته
پرېږده اوس په تلو کښې د راتلو خبرې نهٔ شی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

دا ستا په سترګو کښې به څه پاتې شي
رقیبه یار که ې په خُله پاتې شي

ستړے مزدور سحر وختي پاڅېږي
په شوګیرو مئین وعده پاتې شي

یو ځلې نیغ په دې لار تېر شه اَشنا
چې دې کابه وا ته ګاته پاتې شي

افسوس چې ستا په خیال کښې څه بنکاریه
دغه ارمان به ې په زړه پاتې شي

وستایه ړېر د یار تېراخه خاطره
چې په کتاب کښې دې خوابده پاتې شي

○



○

زړه په دې نه دے چې ناولے مخ دے
چې کوم یې خوبښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ړېر دي خو دا مخ ې خوښ دے
والله یه تهول کښې وتلے مخ دے

پر ېږده چې او ښکي ې بهېږي په مخ
دا بې ګناه جانان رتلے مخ دے

څه وشو تا که دیدن بند کړو په ما
خاطر په زړه کښې ستاساتلے مخ دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څوک چې ستا د ګرانې مينې طلبګار دے
هغه کله له غمونو نه وزګار دے

ستا سينګار زما په سترګو کښې غمېږي
چې په کوم لوري زه ګورمه بهار دے
د منصور خو هسې نوم دے په دنيا کښې
که يقين دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندوي، تغيروي چې ې ستا مينه
بس هم دغه ې خزان او هم بهار دے
دا رقيب دې څه په مخکښې مخکښې کيږي
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

که دې يار له سترګو ووتو خاطره
خپل غزل مخې ته ونيسه دا يار دے

---

مياشتنۍ "غنچه" پېښور

اګست ۱۹۶۰ء



خوږ خوږ يو د مينې په ترخو کښې انتظار دے
بنګلي تماشه په تماشو کښې انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې په ما څومره اوږدې کړې وې
بنه دے چې د ژوند په ورځو شپو کښې انتظار دے
مه کړه ضبطه مه چې راله او ښکې وچې نه کړې
ورېږې دې د چا په دې شپېو کښې انتظار دے
تا چې د وفا پلو په ما باندې ونه نيوه
ما ته څه د هجر په غمو کښې انتظار دے
لاړې د اُميد د زړګي شنې پاڼې ې وچې شوې
بيا د در ته سپرليه په راتلو کښې انتظار دے
ما وې چې که نن نه وي سباله به دې خوبينه شي
پرې ې در ته کړے په اسرو کښې انتظار دے
کله به شي ستا د حُسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو په تيارو کښې انتظار دے

بنه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلی وو
ښکليه ستا ديدن په سرو لمبو کښې انتظار دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خدایه خوږه یې وفا زما دلبر دې
چې له غمه یې زړه مې په درد اخته دې

د هجران د لاسه شپه و روځ ژړېږم
ځکه داسې یې په اوښکو ګرېوان تر دې

یا خو زړه ورته نظر کوي نه شم
یا خو دې وړې په لېمو نې نمود دې

اوس یې سود په بل بشر د زړګي نه شي
چې لیدلې یې د یار بنګلې بشر دې

تور بانړه د یار د غشو په مثال دي
چې ویشتلې یې زما د زړګي سر دې

درېغه نه خاطر خو یوه په سپیل قصور کې
چې په څه باندې زما نه مرور دې



ما وې ځان راته اشنا د ستا په څېر دې
دې وې ور دوستي به ته پوه شې څه وایې خېر دې

دې وې زړه که څېرې ستا زما په زلفو
ما وې ستا هر یو کلپ ورته کاوشر دې

دې وې زړه یمه هر سحر په مهر روڼه
ما وې زړه زما د لمر و غوړو نو شېر دې

دې وې بیا ته مخ بنکاره که که پښتون یې
ما وې هر پښتون پخوا له سره تېر دې

ما وې زړه خاطر دې هر وخت یم په طمع
دې وې را شه دلته کښېنه غم یې ډېر دې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن دا اشنا یې دلبر نه ډک دے
د زړهٔ جهان یې د لوګو د اسویلو نه ډک دے

خوښه یې ستا په بهو غشو ده ویشتنه د زړهٔ
ګنی وطن خو هسې یاره د ازغو نه ډک دے

د ستا نصیب شه خوشحالي د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ډک دے

نمر مخي مخ ته یې لهٔ ورایه نا خبر کتلی
نن را ته ځکه دا جهان د پلوشو نه ډک دے

را شه ګلونه ګواهان دي په صحرا کښې زما
چې ټول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ډک دے

دا حسرتونه داغونه تنګ ګوګل زړکیه
لهٔ دې خوګور بنهٔ دے هر خوک د تیارو نه ډک دے

زړهٔ یې یوه د لیونتوب په کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډیرو تماشو نه ډک دے

همدمه مهٔ را یادوه دا تېرې هېرې قصې
زما زړګے خو مختښے لا د ګیلو نه ډک دے

زما خاطر یې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ډک کړو
د مخ کتاب دې را الهٔ راوړه د قیصو نه ډک دے



تک تور سورے د ستا سورے ودبل دے
چې دې اور د ښکلي مخ ترې لاندې بل دے

چې خو څُم په مخکښې لا مزل زیاتیږی
اشنا ستا د دې منزل څنګه مزل دے

زې یې شک په ګرمه لار دے سودائی شوم
نوره مې هیڅ مونده نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې په کښې اوسی اے خاطره
خیبر وګڼه حرم کهٔ څو شړل دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خوږمره وېرې په زړګي باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نۀ شي واڼې کم دے

زۀ چې مست پرېشان او سرګردان يم
هر يو غم يې لکه زلفې پېچ وخم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه يو وارې په سترګو مې تود تم دے
هغه خاوره مې دارو ده که چا راوړه
په کوم ځاې باندې يې ايښے چې قدم دے
ټول عالم يې ډېر صفت د سخاوت کا
ګيله څۀ کرم چې دا خپل نصيب مې کم دے
زۀ خوشحاله مست شوم په خندل يې
خلقه ما او په جانان کښې کوم يو کم دے
چې دلبرې په ژړا پورې نن خاندي
نو ځکه شوے مې د سترګو کله نم دے

حکيمانو له مۀ درومه خاطره
د يار شونډې دې پرهر له مرهم دے

○



○

ستا په انتظار کښې مانه کال څۀ دے
دومره لا مانده نۀ يم ستا خيال څۀ دے

سوزي هم هغه چې پرې بلېږي اور
خانده لے اشنا تا ته دغال څۀ دے

تاکه په شاله کښې پټه ولېدم
بيا به داسې واڼې چې مشال څۀ دے

زۀ دې هر يو غم د زړګي داغ کړم
مانه لا د ستا په جبين خال څۀ دے

ما خو درته وېل ډېره مې مۀ ګوره
وګوره خاطره اوس دې حال څۀ دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې زړهٔ مې ستا پهٔ تور دے پهٔ بل تورېږي پېرزو نهٔ دے
نظر چې ستا پهٔ لور کړم پهٔ بل لور مې پېرزو نهٔ دے

اے مجرو چې مې ورانه نهٔ کړې دا د زړهٔ کې خونه
ارمان پهٔ کښې د یار کړمه پهٔ کور مې پېرزو نهٔ دے

دا نهٔ چې صبر بنا پست باندې شپدا دے زما زړهٔ
د ستا پهٔ مخ دې سوزي خو پهٔ اور مې پېرزو نهٔ دے

پهٔ غېر ستا د محفل څنې مې نهٔ شي څهٔ گذران
در دروی به خاطر خو پهٔ پېغور مې پېرزو نهٔ دے



چې لب نظرې د بصر پاتې دے
جوړې منزل ته دېر سفر پاتې دے

شپه کهٔ اوږده د خوږ و زلفو ده څو
وار دې د سپین مخ د سحر پاتې دے
زار دې د مینې د لمبو څخه زړهٔ
لا مې پهٔ مینه کښې څېگر پاتې دے
تېر شو د شپې وکړه کهٔ وکړې یقین
ستا انتظار را نه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تنده نهٔ شي
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ما خو د ستا پهٔ سر وطن گڼلو
خبر شه اوس را نه خبر پاتې دے
نهٔ او انکار لهٔ تا پهٔ کومو سترگو
لا مې د تن د پاسه سر پاتې دے

نهٔ د دربار پهٔ څلهٔ رخصت څکه شم
د یار خاطره چې خبر پاتې دے

۱ـ منزل لره او ویران کېدل ـ ۲ـ ده شپه به [illegible] ۳ـ [illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

سترګو دې چل چې د خــندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

په لندو پلونو به يې ښکله ښــمه
ما خو تل تګ چې د صحرا زده کړے

ن دې ونۀ وې په وعدۀ کښې راته
صړه وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفــا مۀ کــړه
اشنا خو يو چل د جفا زده کړے

○



○

د ځان سينګارولو کښې مسکۍ وې ما ليدې
زما د زړۀ په سولو کښې مسکۍ وې ماليدې

پروت چې څۀ پرواه ستا په ګذاب نۀ وه صنم
زما په زړۀ ويشتلو کښې مسکۍ وې ماليدې

شايد چې وه د دياده حېرانتيا چې هغه وخت
ائين ته په کتلو کښې مسکۍ وې ما ليدې

خفه يمه په دا کۀ بنۀ يې ستا لۀ سيې کړم
رقيب ته په وېلو کښې مسکۍ وې ما ليدې

لبان دې که پاڼې اننګې دې سرۀ ګلونه
سحر چې ته په ګلو کښې مسکۍ وې ما ليدى

خبرې په غصه کښې کېږۍ هم د چا خاطره
اشنا چې په کتڅلو کښې مسکۍ وې ما ليدې

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

اشنا مې نن لیدهٔ تېرې وعدې را یادېږي
دا وصل کهٔ هجران دهٔ چې کیږي را یادېږي

بس دهٔ مې ستا ارمان پهٔ زړهٔ کښې نن خلاوره[1]
دا نهٔ چې ماته تېرې مرحلې را یادېږي
منم چې فراقجن به نن سبا را یادېږي
لهٔ ما چې اشنا لاړهٔ ماته شپې را یادېږي
کهٔ هر څو شرېږي، نن یادونه چې هېرې دې نشم ښهٔ
پخوا مې لا پهٔ زړهٔ کښې اوسېدې را یادېږي
هم دومره لېونے ستا د پرېشانو زلفو زهٔ
چې چرته خو به خاورې بادېږي را یادېږي
زما د زړګي یادشی د مخکي نظر سره
پهٔ هیڅ نهٔ هېرېدلې هم راسې را یادېږي
دا نهٔ چې آهو چشمه اوس یې غځې ستا یمهٔ
د ستا خمارې سترګې لا نورې را یادېږي

بېګا چې شمع دویه هر څهٔ هېر وهٔ د خاطر
د ستا د محفل ښکلې تماشې را یادېږي

---
[1] ده مصرع یې معنی ده



زما د اُمېدونو ورځې شپې وغزېږي
هر څو ستا د منزل کهٔ مرحلې وغزېږي

اوس چرته ترینه لاړ شم لېونے چې کړه یار
هر ځای کښې یې د زلفو زولنې وغزېږي

نمر مخینه اوس دې سپي لاړې ماته کړه کړکې
نظر کهٔ ستا د مخ پرې پلوشې وغزېږي

چا هسې داسې زمې چې خاطر کړو یارګلا
پهٔ دې د رقیبانو جنازې وغزېږي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښکلې وي ، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډې مې غ ونهٔ وې
بس کهٔ په تا به یادېدې شونډې

سترګو له زهٔ کهٔ قسمونه ورکړم
زړګیه تهٔ کله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
په کشمکش کښې رپېدې شونډې



پوره شومه پهٔ دې چې پهٔ کنځل کښې څنګه ښکارې
وخاندهٔ یو ځل چې پهٔ خندل کښې څنګه ښکارې

ستا د تصور پهٔ یو جونګړه کښې اوسېږمه
تهٔ خو راته وایه پهٔ محل کښې څنګه ښکارې

خوښ به پهٔ باغ کښې ته پهٔ غنچو وکې خپل ځان ته
ګله د آشنا پهٔ سره منګل کښې څنګه ښکارې

سترګې یې پهٔ ما کښې دي چې ګورمه هر چا ته
نن راته اے شمعې پهٔ محفل کښې څنګه ښکارې

تا به پهٔ آئین کښې ځان لیدلے پهٔ یو رنګ وی
راشه د خاطر پهٔ هر غزل کښې څنګه ښکارې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اے ګله! چې ستا ګوټي د خندا نه ستړګې لاړې
نو خود مې لرې برې د ژړا نه ستړګې لاړې

نرګیه! پس له دې به مې د ستا په ستړګو ګورم
نظر مې ورځ اشنا، چې لاړې زمانه ستړګې لاړې
هم دا دې بد رنګه شوه مه ګړه یار له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وړاندې مې له تا نه ستړګې لاړې
ما وې چې کله ورګورې نو اوس بیا مخ پټوې
نو کوزې مې ګریوان ته له حیا نه ستړګې لاړې
یو بل ته په کاته شو او په نهونو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هر چا نه ستړګې لاړې
لږ راشه شمع رویه! لرې مې کوره چې څه شوم
د ستا په تماشا کښې مې له ځانه ستړګې لاړې

نو څه شو که مرې د خاطر ستړګې په تا نه شې
چې د پرې داسې وړینې له دنیا نه ستړګې لاړې

میاشتنۍ «قند» مردان

(غزل نمبر) جولائي، اګست ۱۹۸۹ء

که دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څه کړې
که نه عادت له دې بلا سره شم بیا به څه کړې

در ته کښته نه شم حیران یم د اشنا سینګاره
تا مې چې داسې په اشنا وکړل په ما به څه کړې

څو به شرمېږې او دا دښنه تل ته ماته کړې
چې یې پېرزو نه وې دعا مخه اشنا به څه کړې

چې څه یې وکړل مخه یې تول وکړل په تا خاطره
وایه چې تاله په لاس راشي په اشنا به څه کړې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



پرې خوشحالي به نۀ ده بيا رانه هېرېږي
کله کله غم راکوي تل چې ئې يار درېږي

زۀ دې يم لکه پېښېدے نۀ شي رانه شمېږي
خدايږو د دنيا نه په تيارو کښې بنه ښکارېږي

ماته د آشنا د وعدې هر يو ځاې اشنا دے
اے وېږيه نظره تۀ په هيڅ هم نۀ مړېږې

ستا به د خاطر نه وي په زړۀ کښې غځۀ تړوشوي
دومره بې پروا يې چې په مخ کښې مې تېرېږې

ئے مستر لرنده او ديوان خاطر د ديوان و کتابونو کښې ... شريء دے رچې خيال سيجم کړی



لکه مجنون غوندې ګرځم په بيابان درپسې
وايم په خُلۀ ليلیٰ ليلیٰ ځيرې ګرېوان درپسې

نۀ شوم خبر نۀ د وصال لۀ خوشحالي نه چرې
لکه وحشي ګرځمه غمونو د هجران درپسې

نۀ دې اشنا يم نۀ چې بيا راته آشنا وواۓ
پروا ئې نشته دے په تا نۀ ګرځم خفګان درپسې

چې تۀ بيا نۀ وائې په ما چې تۀ شيدا نۀ يې تۀ
کۀ د کمرو مې ګذار نۀ کړو خپل ځان درپسې

په حال خبر شه چې نن دې را نۀ شي خواله زما
چېرې په لاس ګرځي خاطره رقيبان درپسې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



راشه اے ماهِ تابان پهٔ توره شپه کښې
یم تر زلفو پرېشان پهٔ توره شپه کښې

لهٔ تبکرو بې پروا یم ستا پهٔ عشق کښې
لکه بحر یم روان پهٔ توره شپه کښې

پهٔ خندا مې ستا قسم وی شمع روبه
څو به کړمه داګریان پهٔ توره شپه کښې

زهٔ خاطر د ستا د زلفو نه وار نهٔ کړم
ما لیدلی دی ماران پهٔ توره شپه کښې



چې د سترګو دی ښکار زړهٔ زما سترګې
چې یې نهٔ شی کړے پوښتنې زما سترګې

زړهٔ کچکول کړمه د اوښکو پهٔ زنځیر کښې
چې در ګورم شی نمځې زما سترګې

مړګ ژوندون دے لپې راکوره د زړهٔ سره
در نه غواړی جوړ بخښنې زما سترګې

د هر چا دې دیدنونه مبارک شی
وینې ستا د پېرزوینې زما سترګې

پهٔ ژړا باندې خوږ نهٔ شی چې زړهٔ ژاړی مر
ډکې ستا د درلسنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نهٔ درګوری
هسې نه چې دی بارنې زما سترګې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

خوږ د هرې يوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې
څهٔ زوخونه پرې ډکرم او ښکو اوړې
په ژړا د غم پخې شوې زما سترګې
چې سبا به کا يې ستا په در کښې نيسم
خوږ د هرې يوې ناې شوې زما سترګې
بيا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې لهٔ ځانه نه په دې شوې زما سترګې
اوس په دم کښې د يار زر ځل ديدن غواړي
د اول نه ډېرې ښې شوې زما سترګې

نهٔ خاطر به په ترخو زړهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

---

مياشتنۍ «غنچه» ستمبر ۱۹۶۰ ع

د ستا چې نهٔ وينم دا تورې سترګې
په کار مې نهٔ دی دا پورې سترګې

نهٔ به يې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
د ستا په پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پيمانه څهٔ کومه
چې د اشنا مې دی مېخورې سترګې

خاطره ژاړه لهٔ هجرانه سره
په تصور کښې غرې کړې سترګې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه وشو چې ستړګې مې په تا باندې خوږې شولې
چا ته پوره نه شوې چې د ستا په لور کږې شولې

ګوره دا ګرېوان مې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نه شلېږي د ستا د زلفو څرنګه حلقې شولې

ما خو پېژندل چې د ستا خوله ډېره آسانه ده
ګرانه شوله څکه دومره خولې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مینې افسانه زما په شونډو ده
ځوړې دې افسانې مې په نړ ګوتې کښې ورستې شولې

ستړګې د خاطر که ستا په ستړګو تېر وتلې دي
ګورمه دا بدې که زما په حقله بنې شولې

تا به کتو غل چرته خاطره د ورک شوې نه ده
نه ګورې چې تا ته د اشنا ستړګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ایسار به یم ولې
چې پښېمان یې تیار به یم ولې

په یو ساعت کښې مې بیا بیا ژړوې
چې اوس ژړېږم قرار به یم ولې

دریغه چې سر دې د ستم نه وې نو
چې نه سر کېږم ازار به یم ولې

نور به دې څه وکړې باڼه په خاطر
تول دې پرهر کړمه ویر به یم ولې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوبنکي نهٔ کمیږي خوږ را ماتې شوي
تا چې خندا وکړه نور زیاتې شوي

څوځلې د اوبنکو سره درغلم
داښکلې جرګې او ننواتې شوي

څو به ګوري ستا سترګې نما سترګې
لرې دې وي خبرې هو چې زیاتې شوي

تا چې د خاطر سره څهٔ کړي دي
خبرې اشنا داې درته پاتې شوي



تهٔ به پهٔ زړهٔ کښې ماله څهٔ راکوې
کهٔ راکوې ماله به زړهٔ راکوې

منع به نهٔ شم ستا لهٔ دره څخې
پهٔ دې دې نهٔ یم کهٔ څهٔ نهٔ راکوې
څهٔ لوې اختر دې د ځوانۍ تېر کړلو
تهٔ به لاسونه ماته بسهٔ راکوې
داسې چل وکړه چې ډېر ورو ورو ډېږم
سبا به ښکلیه یوه لمبه راکړه
دا خوشحالي به ماته څوک راکوي
چې تیول غمونه راله تهٔ راکوي
چې پروند او ګویږ دې کړم نو ماله به شوي
اوس خو به هر څهٔ پهٔ کالهٔ راکوې

ضد لهٔ خاطره سره مهٔ کوه تهٔ
کهٔ یې اوان راله پهٔ څلهٔ راکوې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا تهٔ زما پهٔ وینا څله نهٔ یې

کهٔ څوک خپل ځان درته ذرې ذرې کا
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ یې

دا تهٔ خبر چرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره تهٔ څله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوي لا
تهٔ خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې



هر څوک کهٔ چې د زړهٔ قرارولو له راځي
پوهېږم ولې نه چې قتلولو له راځي

بلبل کړې د ګل وصف کهٔ بهار وي کهٔ خزان
بورا تهٔ خو یې بس یو ښکلولو له راځي

غمونه د اشنا زهٔ اوس پهٔ هیڅ نهٔ هېروم
اے غمه د دنیا کهٔ هېرولو له راځي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازادولو له راځي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


داسې راته ګورې لکه تهٔ چې را ته ګورې
نېغ مې لهٔ زړګي وُځُ کاږهٔ چې راته ګورې

کله چې د زلفو ورېځ لرې کړې لهٔ مخه
شي دې پلوشې ښکلې بانهٔ چې راته ګورې

هغه وخت لب وېړوک تهٔ چې مخ راځنې پټ کړې
داسې معلومېږي لکه بنهٔ چې را تـه ګورې

تهٔ زما د زړهٔ نه د خپل حُسن تپوس وکړه
زهٔ به درته ووايمه څهٔ چې راته ګورې

نن خو مې خاطر وکړه چې مهٔ را ته راګوره
زهٔ درته کتے نهٔ شمه تهٔ چې راته ګورې

# سـندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


اوس را نه هیڅ نهٔ شي خطا ده
لهٔ مرغهٔ مرغهٔ ورو تمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

نهٔ در نه خفګه هېرېدمه  خپلو وګډونو وشرمېږه
تا چې خندل نهٔ زېږدمه  لهٔ هغو شپو نه وشرمېږه
هېره زما توله دنیا ده
شام وسحر دې یادومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

غرېږهٔ غرنهٔ ودمې صحه  چې وی ګلڅنډي لغرېږه راشي
درته پهٔ زړهٔ کښې به یې ساتمه  پرېږده چې موږ بهٔ پهٔ جنازې
زما پهٔ سترګو کښې حیا ده
نهٔ یې پهٔ څهٔ درواېږومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه



تل به پهٔ هرچا راسې کېږې  پهٔ داسې خلقو چې اعتبار کا
لهٔ خپله ځانه چې خبرېږې ته  لهٔ کوم ګټو به یې ګذار کا
د ښکلو مینه بې وفا ده
نهٔ به یې څهٔ درته ستایمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

خاطر خرمهٔ وے درکړلې  اوس یې ژړوندون اختیار دے
هغه چې تا درته خندلې  نهٔ یې د نورو خندا تور دے
زما د زړهٔ خوښه ژړا ده
ځکه یې نهٔ قرارومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

[illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې مې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

زهٔ به څهٔ کړم ګریوان چې یار راکړي ګل
پهٔ زخمونو ملهم به کېږدي د ګوګل
هسې هسې مې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډو مې یې خند بدو ته جوړې شوې
مل به څنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اور مې سم تل تر ځیګر ورسېدهٔ
بې لهٔ سوزه خو هیڅوک ژړا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

اے خاطره ګیلې د خپل یار ده مهٔ کړه
تهٔ طمع د دل آزاره مهٔ کړه
اے شباب خاطر د هیچا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا



شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبانو ستا نهٔ د ښامار پهٔ شان خوړلے یمه
نهٔ دي د سترګو پهٔ بڼو باندې ویشتلے یمه
ځي مې لهٔ خُلې نه تورې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې کړېږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غوندې ژړېږمه زهٔ
اوښکې مې ځي پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې تهٔ کوې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور دے صنمه
خاطر کوي در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې زور دے صنمه
وهم رباب لکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې آشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ ومه خبره زهٔ، تا چې زړهٔ با بُللے دے
تا ووې ربار ته پس لهٔ دې به څو راځو
خبر دے کهٔ تش تورې دې پرون زړګے شړلۓ
خیال ې وهٔ سنګار ته پس لهٔ دې به څو راځو
وښایه څنګه راته      اوس د زړګی سر راته
وایه د بهنو غشو پهٔ کوم کوم ځای ویشتلے دے
لاس کښې آئینه ې وه      کړې چې کینه ې وه
ماکتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راځو
څنګه مرې د ر شمه      پهٔ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقیب راته ډک تور پک نیولے دے
یو ځلې د رغلے وم      ډېر دې زغلولے وم
غلے وم دیدار ته پس لهٔ دې به څو راځو
ما چې کوم ستم کړے      اوس ې پهٔ تاکم کړے
دا د ځوانۍ ولړ پهٔ ما نن سبا راغلے دے
شو خاطر غلام دستا      کړې به تل سلام دستا
پرې ې نږده در بار ته پس لهٔ دې به څو راځو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

نن خو را ته مهٔ وایه چې نا      تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مینا      تر سبا
وو وایه اشنا راته، تهٔ زما تعبیر نهٔ یې
وی چې تل پهٔ خیال کښې ې تهٔ صفه تصویر نهٔ یې
بله راته بنکاری دا دُنیا      تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مینا      تر سبا
راکړه ساقي داسې مئ چې شي زما او ستا نشه
هم پرې د چوپتیا نشه هم پرې د دنیا نشه
جام د لبو راکړه پهٔ بیا بیا      تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مینا      تر سبا
نن خو دې را جمع څهٔ پهٔ مشر کښې کېنو نه دک
ستړګو پیمانو کښې دې رنګ پهٔ رنګ ستورنه دی
ګلې د خاطر شهٔ پهٔ ربنتیا      تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مینا      تر سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


طلب کړم صنم چم پهٔ چم
لوند ئې کړېوان دے څاڅي ئې نم

مینه وفا دې نښته
پهٔ چا پروادې نښته
ویره لهٔ چا دې نښته
کوه ستم طلب کړم صنم

رنګ ئې تک تور صنمه
سوے پهٔ اور صنمه
کومه شور صنمه
وکړه کرم طلب کړم صنم

مینه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر مالیار دے دستا
ډګل پهٔ چم طلب کړم صنم

ے متن اړینه د دیوان کښې مصرع داسې ده :- چم په چم طلب کړم صنم



چې ستړګې نهٔ وباسی، زما او ستا نه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنیا نه

زما او ستا دلته څهٔ دی، خو یوه مینه
دا خو هر چرته کېږی، چې داسې وینه
ځان له به جوړه کړو بوستان، پهٔ بیابانه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنیا نه

خو به پهٔ ویره سره، دیدن پهٔ غلا کړو
پهٔ انتظار کښې سره، بېګا سبا کړو
تهٔ شه لهٔ زلفو تېره، نهٔ لهٔ کړېوانه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنیا نه

دا ټک د مینې زړونه، به دواړه یو سو
څه چې ځنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
یو دې چار ګل پهٔ پوښ، ه بل دې پېزوانه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنیا نه

دا ئې پهٔ خوا خاطر کښې، نهٔ وو صنمه
چې زهٔ خاطر به شمه، پهٔ خاطر جمعه
څکه چې ستا لهٔ غمه، ډېر یم پرېشانه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنیا نه

ے متن [illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

د سړي نه کال ته وړې غمونه
لۀ داسې ژوندنه مرګ بۀ دے راته ښۀ ښکاري
الله دې خير کړي

ستا د ماشومانو فرياد ونه
هېر به مې نۀ شي
لکه د زانو قطارونه
هېر به مې نۀ شي
پاس پۀ آسمان کښې ځمونږ سره پاڼۍ ښينه
الله دې خير کړي

د پښتنو فقيره ژوندونه
خندګه به تېر شي
تېر خو به شي پۀ لوږه تنده
خندګه به تېر شي
پۀ مصيبت به دې څوک سر ته رسوينه
الله دې خير کړي

نوم د پښتو راځي هېر شي
څوک مې يادېږي
غم د صفو ياراسره بېرښه
څوک مې يادېږي
څوک چې د قام او دا وطن خدمت کوينه
الله دې خير کړي

خاطره صفحه خلق ستا به
پۀ خپل کتاب کښې
تل پۀ بار بار دغسې وايه
پۀ خپل کتاب کښې
چا چې سر ورته پۀ وطن ورکړي دينه
الله دې خير کړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شو ګیرې تو لې په سباسبا کښې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
ستا د بنا پسته ستر ګو د یاره    ګلورې مانه ښکلیه یاره
څو مره لیې ې په نرګوتی باندې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
د خدای د پاره بس ګړا شه    که مروړې راخلاشه
ستا د را تلو په انتظار ې ستر ګې ستړې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
دا ته چې لاړې د بل چا شوې    زما د زړه څخې جدا شوې
زما د ا ستړې شو ګیرې دې تو لې هېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
خاطر زه ځان ته حوانه یمه    که لږ ر اګورې بس روانه یمه
د پیغلتوب ملګرې تو لې د انه ګېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د قافیه درسته ته ده



وا وره صنم زړه ې نه شي له تا نه
ویلې نه شم زه څه له حیا نه

دغه ستا د مینې درد و نه بنه دی په ما
زړه ې د ستا د یاره واڼی چې وی دې په ما
وا وره صنم

په کومه لاره ښکلیه چې قدمونه کېږدې
دهر بر مېنو په زړه باندې داغونه کېږدې
وا وره صنم

زړه ې له خپله کوره تښتي چې راشې صنم
خاطر د ېر ګران دے په ما چې په خنداشي صنم
وا وره صنم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



پهٔ تش دیدن باندې ي نو نو مشغولېږه
خُم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

لهٔ هرچا پټه پټه ستا یارانه به کړمه
تاله چې درشمه نهٔ ځهٔ بهانه به کړمه
پهٔ انتظار کښې ي لهٔ ځانسره ثړېږه
خُم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تابه هېر نهٔ کړمه
یو ساعت بې لهٔ تا به پهٔ نورځهٔ تېر نهٔ کړمه
پهٔ دې سوداې فدهٔ کېږه راوینېږه
خُم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

نښه د ستا او زما ، ماهِ تابان شو سره
بل ي کاروان د ستورو پهٔ کهکشان شو سره
د سبائی د خیال خوبونو کښې زنګېږه
خُم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

ځان ته دا ټوله دُنیا خاطره ما وکړنه
پهٔ کښې ي مخ او زُلفې ښکا سبا وکړنه
د نرهٔ پهٔ مینه ي پهٔ سترګو کښې اوسېږه
خُم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

[illegible]



تهٔ چې پهٔ مرګ زما رضا يې
ما ته قبوله دلربا يې

ستا رضا ده چې دا سې ثړېږم
پهٔ عالم کښې دا سې ګرځېږم
پهٔ محبت ي نا رضا يې
ما ته قبوله دلربا يې

عاشقي وه پېدا لهٔ اوره
لږ زما سوی زړهٔ ته وګوره
جوړ پهٔ معنیٰ قیمت بها يې
ما ته قبوله دلربا يې

خاطر ته ګوره دا سې حیران دے
پهٔ محبت کښې ستا بندیوان دے
يې کبرجنه بې وړیا يې
ما ته قبوله دلربا يې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه وله زما داشنا مينه
اے زړه غمګينه

اے زړهٔ ذرې شه
خاورې ايرې شه
ځي مې دستګو د زړګ وينه
اے زړهٔ غمګينه

راشه کهٔ وينې
د زړګی وينې
د يار پهٔ غم کښې چې دوی راځينه
اے زړهٔ غمګينه

خاطره دا شپې
تا نه جدا شپې
چرې د وصال شپې د يارکه دينه
اے زړهٔ غمګينه



اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
ځهٔ به د بنګلو نګهتونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
بلبله ستا د تماشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لاهغه د ازغو ورځې دی
ځان کړه پهٔ خود اوس د ګلو ورځې دی
راشه چې ژوند دې د کېفونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
اوس به تول بوټی سره ځان وښائی
ځوک به کلی، ځوک به ګلان وښائی
لاله به هم خپرې ګرېوان وښائی
هم به بلبل شور و فغان وښائی
اوس به ښا خونه د رنګونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



جونه به ولونه د وډبل جوړوي
په کښې ځايونه به د ګل جوړوي
سرو سرو غنچو نه به منګل جوړوي
په آينو کښې به کاګل جوړوي
دغه جهان به لۀ نا زونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ښکلي ځلي به په شملو کښې بندي ګل
او رس خو به جونه په کمڅو کښې بندي ګل
ډېر ارمانونه به په زړو کښې بندي ګل
څوک به د زړۀ په پرهرو کښې بندي ګل
داسې به زړونه په داغونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زۀ کوم ثنا د چا خندا نۀ وينم
چې چې ليده هغه رڼا نۀ وينم
ګل د رخسار چې داشنا نۀ وينم
زۀ نور ګلونه د دُنيا نۀ وينم
څو کۀ جهان لۀ ديدنونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لوے جهان رڼوي
زړۀ په ګوګل کښې چې جانان رڼوي
د مينې ګل را نه هجران رڼوي
نۀ کړي خاطر دغه بوستان رڼوي
د مغ کتاب دې د رازونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ځۀ به د ښکلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګي مي غواړي شمع روبه سوزېدل
راشه يو ځل

ارمان مي دا دے کۀ پوره شي
د رنځ دارو مي د اشنا سره لېدل
راشه يو ځل

څو به شوګير کړم راته وايه
وا په خوبونه راځښي وتښتېدل
راشه يو ځل

کۀ ديدن کړې تلوار را وکړه
همزولي راغلي خوروي مي تور وبل
راشه يو ځل

عاشقان ګوره حال يي څۀ شو
لکه پتنګ چي په لمبو وسوزېدل
راشه يو ځل

سوال د خاطر منظور کړه يار ه
جفا دي پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه يو ځل



نن دي ودبل پۀ کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه زۀ اور راته بل دے
د ډونډ کاروان مي دے دغم غرو ګکر دوزکېږي
واوره فرياد مي د جرس پۀ اوازونو کښي
تلے دي پل پۀ کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه زۀ اور راته بل دے
ترڅو د هجر دا اوږدي شپي او تيارې به وينم
سبا د وصل به وي لرې کۀ نږدې به وينم
د ستا منزل پۀ کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه زه اور راته بل دے
خاطره نن دي کۀ لرې سم راته کتلي وے
وا په بناپسته به دي لۀ نږۀ ځني وتلي وے
د کتو چل پۀ کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه زۀ اور راته بل دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړې نیولې دي ماستا پهٔ رخسار کښې
او بهٔ او بهٔ شول تورې مې پهٔ خُمبار کښې
ما چې لیدلے ، ستا پښو کښې پل دے
غم د وحشت ، وحشت راسره مل دے
اوس مشغول لا کړم پهٔ دغه لار کښې
او بهٔ او بهٔ شول تورې مې پهٔ خُمبار کښې
نهٔ در رسیږې نهٔ درته غږ شي
نهٔ را ته خُښ شي نهٔ را ته نس شي
داغهٔ ژوندون دے پهٔ انتظار کښې
او بهٔ او بهٔ شول تورې، مې پهٔ خُمبار کښې
یار یې لهٔ بنګلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حیران دے
ټکه سپوږمۍ وی، ستوری قطار کښې
او بهٔ او بهٔ شول تورې مې پهٔ خُمبار کښې

زما پهٔ طمع به کېږي تېر مې وختونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چې درته کوم
ما ته را یاد نهٔ دي څوک زهٔ پهٔ ځان کښې یمه
پهٔ زړګي غم نهٔ لرم پهٔ خوشحالۍ کښې یمه
زهٔ لېونے یم چې کوم دومره فکرونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چې درته کوم
لېونی نهٔ یمه چې د خپل سودا کومه
په تا دې اور بلیږي زهٔ څهٔ پروا کومه ۱
چې بیا همزولې را ته نهٔ کا پېغورونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چې درته کوم

---

۱ مترلینه او ځینو کښې د دې مصرع په ځای داسې هم دی:
لېونی نهٔ یم چې د اسې دا کړم ـ پهٔ تا دې اور بلیږي زهٔ څهٔ پروا کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دومره وزګاره نه یم چې خپل ځان وو وینم
چې په اینه کښې ګورم آئین پرېشان وو وینم
جانانه ډېر درپسې ګرځم ارمانونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

زه چې ګورم له ځمه مېن سوزېږي په ما
تکه دا اور په شان سپېڅار ځلېږي زما
خاطره مه راځه بلېږي سره اوردونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم



تورې سترګې دې اشارې کا      سرې شونډې لبې کا
زړه کښې راته وا یه      چې زه کوم طرف ته لاړ شم

کله بانه راته انغي کا      پښې د ګلو انګې کا
چې مسکی شی بیا سترګې مرې کا      سرې شونډې لبې کا
زړه کښې راته وا یه      چې زه کوم طرف ته لاړ شم

بیا چې ارمان د بسره نه وی      کړې چې ځه دې نن په زړه وی[1]
چې مو خلق ټول تماشې کا      سرې شونډې لبې کا
زړه کښې راته وا یه      چې زه کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په تورو شپو کښې      دا دې خاطره په تیارو کښې[2]
خپلې او ښکې دې ځان ته ډېرې کا      سرې شونډې لبې کا
زړه کښې راته وا یه      چې زه کوم طرف ته لاړ شم

[1] متن لرته او دیوان کښې (ن) نشته
[2] متن لرته کښې دا بند نشته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې تر سبا به مې ژړا په تا پسې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

دلبره بنده را ته معلوم یې
مسې خوله چې ته ماشوم یې
کله زهیر په ما مظلوم یې
چې نه پوهیږې له هغو سره وعدې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه یم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

چې په غمونو کې دې ګیر کړم
اوس دې دلبره ګله هېر کړم
که دې یو ګل په دیدن سیر کړم



ګنې له غمه به دې مړ شم بیا مړې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

چې د اغیارو زما یار شوې
بس اوس مې قتل ته تیار شوې
اشنا زما څخې ویزار شوې
پر ما مې نشته خو په خپله مې ذبې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

ښکله قبول دغه بېلتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مینې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را یاد دې دغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

دستا چې نه یمه د چا یم
را غلې دایم په خندا یم
مړوړ نه یمه پخلا یم
خاطره بیا که مړوړ شوم نو ګیلې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه زما ناترسه یاره

~

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

تېر به د ستا د حسن وار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

چې نهٔ را درومې اشنا نو وعدې ځاه کوې
هغه پرون دې ځغه وې ن چې بیا بیاله کوې
زما یقین ستا په اقرار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

ستړګې مې بې له تا نه د چا په لوري نهٔ ګوري
د ستا له مخه ځنې مخ نه نور نهٔ ګوري
مړې به کله په دیدار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

زهٔ د بل چا د مینې اشنا څهٔ طمعه نهٔ کړم
نهٔ به له نوره سره ستا مینه سمه نهٔ کړم
پهٔ ما خاطر دې که اعتبار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما



چې نهٔ را درومې یاره تهٔ، منع دې کړه یاد زما
نهٔ شومه پوه پهٔ خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

ان د یو ساعت مهمان د لې
واوره زما یو خو ګیلې
تېر به شي ستا شباب، سر دې نهٔ کړو مراد زما
نهٔ شومه پوه پهٔ خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

چا ته بنکارهٔ کړم خپل ځیګر
نهٔ کړې پروا چې پرې دلبر
نور مې دې څوک چې یې واوري دغه فریاد زما
نهٔ شومه پوه پهٔ خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

کهٔ بنهٔ دې شي پهٔ سر زما
وي دې پیشکش دلبر زما
وائي خاطر شه نار له تا، نشته باقي جانشاد زما
نهٔ شومه پوه پهٔ خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زهٔ جهان څهٔ کړم چې نس مخیه یاره تا ووینم
ښکله دنیا ووینم ښکله دنیا ووینم

ستا د کاکل پهٔ تورو شپو پورې لاشپې څهٔ دی
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې څهٔ دی
دی تماشه مې د ژړا چې د دې خندا ووینم
ښکله دنیا ووینم ښکله دنیا ووینم

د ستا پهٔ مینه کښې د خلقو خندنے خوښ یم
خود خپل عقل نه وژګار شم لېونے خوښ یم
راسره غم د لېونو شی چې صحرا ووینم
ښکله دنیا ووینم ښکله دنیا ووینم

ګله چې ما خاطر ته یاد شې ټول جهان ګل شی
لهٔ ډېره هجره سرېو ګل مې د چشمان ګل شی
خدای خبر بیا چې زهٔ به ستورے د سبا ووینم
ښکله دنیا ووینم ښکله دنیا ووینم



د قام ځلمو ستړکې مو پورته کړئ خپل ځان وګورئ
چرته کښې ورسېدهٔ ، وګورئ جهان وګورئ

د قام ځلمو زمونږ همدغه د ختو ورځې دی
دا مو د ژوند د بنهٔ کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نس پهٔ څېرې خپل طاقت پهٔ ټول جهان خور کړې
پهٔ خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړئ

شاته نور مهٔ ګورئ پهٔ وړاندې خپل قدم کېږدئ
پهٔ ورانو لارو باندې مهٔ ځئ قدم سم کېږدئ

لهٔ مخې لرې کړئ ازغی ځان ته ګلونه کېږدئ
شی چې اغیار در ته حیران هلته کښې پلونه کېږدئ

مونږ له چې مخې له راغلی وار خطا تللی دی
ځلمو زمونږه ځنې ډېر ځلی پهٔ شا تللی دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تا سو هم وا ورئ چې پېغور ته نظر تېټ نهٔ شي
د پاکستان ځلمو مېدان کښې مو سر تېټ نهٔ شي

د مشرانو تل ځلمو نصيحتونه نهٔ وي
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نهٔ وي

ملا مو د قام خدمت ته وتړئ چې سيال شئ پکښې
دا تنګي لنډې کړئ او ارې چې خوشحال شئ پکښې

چې نن يې ونهٔ کړئ ځلمو بيا به يې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پور ته شئ په خپله يې وکړئ

يو بل ته مهٔ ګورئ ، لهٔ ځان هر يو ماليار جوړ کړئ
د پاکستان د هر يو کوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن په خونه تندر د اسمان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ په ډېرو وينو د امکان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
دا دهکې مهٔ کوه
هسې دېکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه د هر يو مسلمان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ يو ځان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ودود کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمير کښې هندوستان جوړ شي
چې پاکستان جوړ شي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ښاغلي په شان وو اول
جوان پرېشان وو اول
اول وو ښاغلے اوس دریاب ترې بې پایان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

هر امتحان ته ولاړ !
دغر په شان ته ولاړ
وائي خاطر چې کلک په شانې د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

✱

ستا د هلال ستوري مدام اختر دے زمونږ
د ستا مثال ستوري بکاري نظر دے زمونږ
د ستا د اقبال ستوري سر او بصر دے زمونږ

تل ځلیږې په تا چې یې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**